# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره
خواري کړې ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په
غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا
زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې
ډیر سخت منع دی

پښتونستان
پښتو ډاټ نیټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited
without written permission of Pukhto.Net

Pukhto.Net



# ځونډۍ

فضل حکیم عندلیب

| | | |
|---|---|---|
| دَ کتاب نوم | : | ځونډۍ |
| شاعــــــر | : | فضل حکیم عندلیب |
| کمپــوزنګ | : | محمد ریاض ساغر |
| دَ چاپ کال | : | ۲۰۱۰ |
| شمـــیره | : | یو زر (۱۰۰۰) |
| چاپه خانه | : | بلال پرېس بټ خېله |
| بیــــعه | : | سل روپۍ (۱۰۰) |


Pukhto.Net

# ټـړون

دا کتاب هوښيار پښتون
خُدائے بخښلی
ښاغلی کاکاجی صنوبر حسين مومند
ته ډالۍ کوم

عندليبؔ

Pukhto.Net

# ادم

تا وې مه خوره غنم
ما وې زۀ به پرې مرم

دے زما دا فطرت
زۀ یادیږم ادم

دا سرکشه بوټی
دا غضب دا کرم

دی دَ خاورې بچی

څوک موتاز دَ باران
څوک موتاز دَ شبنم

وایه چا کړه ګویا
دا کتاب دا قلم

دا جذبه دا جنون
دا انکار دا قسم

دا زۀ چا کړم بې نیاز
دا زۀ چا کړم کرَم

Pukhto.Net

دَ جزا دَ غُنچې
دَ سزا دَ لړم

دَ رِندانو زوال
دَ ساقي دَ کور غم

جوړ دَ يو مُصوِّر
هُم سرور هُم ماتم

دي دَ درد پيداوار
هُم صنم هُم حرم

ځي تهٔ ېر زورَور
عندليبؔ دا منم

★★★★

Pukhto.Net

○

مـا درتــه ځـکــه دَ دردونــو دَ دوران او نــهٔ وې
چې ستـا جهـان تـه مې دَ چـا پـه رنګ جهان اونهٔ وې

ظـلـم دا نـهٔ دے چې ارمـان پـوره کـول ګـران شـوی
ظـلـم خـو دا دے چې ارمـان تـه مې ارمـان اونـهٔ وې

تـا تـه پـه ځـان وئیلـو دلتـه کې سـرونـه لوېږي
دومـره پـوره ده چې خپـل ځان تـه مې دَ ځان اونهٔ وې

هوښیار په دې یم چې هوښیار راته هوښیار نهٔ ښکاري
نـادان پـه دې یم چې نـادان تـه مې نـادان اونـهٔ وې

مـونـږ دَ فـکـرونـو دَ تیرو خـلاف جهـاد خـوښـوو
مـونـږ چـا تـه چـرتـه دَ سـرونـو دَ تـاوان اونـهٔ وې

پـه سینګـار پـوهـه ده خو پـت دَ غـریبۍ هم پـالي
لـُور راتـه چـرتـه دَ چـارګـل او دَ پـېزوان اونـهٔ وې

دا کۀ منم چې انسان ډېره ترقي اوکړله
دا هم منمه چې انسان ته ئې انسان اونۀ وې

دَ سفر ژونده! بېګانې شپه به لا څنګ هېرووم
ما دَ مور چغه کړه خو چا راته قربان اونۀ وې

زۀ دَ نظر په دائره کې چورلکونه وهم
ما دې اسمان ته لا تر اوسه هم اسمان اونۀ وې

چې بې پېسو وومه نو دا کار ئې په ما اوسپارو
زما دَ ځوی غوږ ته فلانکي مُلا اذان اونۀ وې

مونږ بې همته لاروی نۀ یُو خو بیا هم ګُله!
مونږه دَ مینې مزلونو ته اسان اونۀ وې

دَ ګُل په سېوری کښې دَ غنو په څادر اوده شو
عندلیبؔ کله هم خوبونو ته ارزان اونۀ وې

★★★★

○

ژوندہ ایله دې دَ رڼا مقام ته اورسېدم
چې دَ سحر په اوګو سور ماښام ته اورسېدم

بیا دې دعوه کووم چې ستا کلام ته اورسېدم
په دې شعور کۀ دَ الف نه لام ته اورسېدم

نن مې دَ خپلې بې وسۍ په معنیٰ پوهه شومه
په شان تدبیر چې دَ پنجرې نه دام ته اورسېدم

پاڼکے مې ښکل کړو نو دَ بامه مې دنیا اولیده
ګُل ته مې پام شو نو هله ګُلفام ته اورسېدم

ستا به مستۍ ته اراده وه دَ هستۍ نه لرې
ما دَ انجام فکر کولو جام ته اورسېدم

دَ دیدن تندې مې تناکې دَ ښو اوچولې
په سرۀ غرمه کې دَ جانان سلام ته اورسېدم

درد راته وې چې عندلیبه لږ مې اوشینده اوس
ستا په وجود کې خو اندام اندام ته اورسېدم

★★★★



Pukhto.Net

○

دُنیا دار خلق کۀ دَ ټول جهان دوتر ورکوي
مئین دې خوار شي چې پرې څلے دَ دلبر ورکوي

هغه مې ولې دَ فکرونو په ښکلا خفه دے
دَ خُدائے تقسیم دے چا له زر چا له نظر ورکوي

زۀ دَ قبرونو تختې نۀ لولمه ژوند ستایمه
احساس مې هغسې په خاؤره باندې زر ورکوي

تۀ چا ته مه وایه چې داسې ومه داسې شومه
دا سوے رنځ به دې دَ سوي زړۀ خبر ورکوي

دَ حوا لور دومره بې وسه ده چې اُف نۀ کوي
څوک ترې څادر کوزوي څوک ورله څادر ورکوي

دَ مشرقي سخي تهذیب دَ سخاوته لوګے
مغرب له هر مازیګر نوے نوے نمر ورکوي

زما بچي ته دَ بارودو ډك واسكټ اچوي
خپلو بچو له دَ سپوږمۍ په سر چكر وركوي

انسانه! داسې ئې چې فن كې دَ چا نۀ ځائيږي
دې منظرونو له رنګونه ستا نظر وركوي

په پاڼه پاڼه ئې دَ خُدائے دَ تخليق حُسن ښكاري
عندليبؔ څكه په ګُلونو باندې سر وركوي

★★★★

Pukhto.Net

خودي ته چې څوک شاکړي بې خودي ورله راځي
هستي چې کله هېره کړي مستي ورله راځي

سړے خو چې سړے شي نو سړے ورته سړے شي
سړے چې سم سړے شي نو سړي ورله راځي

اسمانه ستا دَ ستورو قافلې ورته پسخېږي
ده زمکه خړه پړه خو تندي ورله راځي

مخونه چې ښائسته شي نو مخونه ترې چاپېر شي
لفظونه چې ښائسته شي ښاپېري ورله راځي

دَ فکر دنيا سپوره ده خو توره دومره نۀ ده
جانانه ستا دَ ياد اورَوَرکي ورله راځي

رِندي دې لا نيمګړې ده دَ هوش دُشمنه نۀ ده
پياله چې کله تشه شي ساقي ورله راځي

مئين دَ يار دَ څو خوږو خبرو په لالچ کې
خفه کۀ ترې نه تلے وی راضی ورله راځی

هغه وئيل چې شونډې دَ اشنا دومره خوږې دی
په شپه کې چې اودۀ شی نو مېږی ورله راځی

دا ښار خو به دَ روغو دې دروغو وے وران کړے
دا ښه ده چې دَ مينې لېونی ورله راځی

دا ځينې مې دَ خاوُرې قرضداری دی کۀ نۀ دی
په هار کې کډې اوکړی په سپرلی ورله راځی

دردونه چې ګويا شی عندليبّه خوندَور شی
غمونه چې سينګار شی نو غمی ورله راځی

★★★★

هغه خلق چې دَ مينې كر له راشي
په سر سترګو دې زما دوتر له راشي

شر مې بدې شي خو ځۀ اوكړم عالمه
چې سړے راپسې كور ته شر له راشي

خپل مئين په كانړو مه وله جانانه!
دَ چينې نه به دې چرته ور له راشي

دَ خپل فكر لنډ الوت ته فكر يوړم
كۀ هر څو په بره ځي دلبر له راشي

په خمار كې دَ سكون خوارۀ پيدا شي
دَ نظر نه چې نشه نظر له راشي

دَ ورنړې نه تر كفنه پورې زغل دے
خوار انسان دغه لنډې سفر له راشي

يا نغمه شي عندليبه يا شعرونه
دَ زړۀ درد چې دې دَ ګوتو سر له راشي

★★★★

عالمه په رڼا ورځې مې شوکه اونیوه
زړګی مې دَ قاتل نظر ملوکه اونیوه

دا منم دَ خپل سر مې دومره نۀ دے کړے فام
دا نۀ منم چې چا مې دَ غرۀ څوکه اونیوه

دَ جبر دَ باز پنجې کۀ تېرې وې شوې کړې
زما دَ پرهر شونډو ترې مخوکه اونیوه

دَ نوی تاریخ پاڼه چې مې نۀ وه دَ لوستو
قیصه مې ورته بیا دَ زاړه ټوکه اونیوه

کړه ده ښه پرې پوهه یم روان یم عندلیبه
دا لار مې دَ اشنا دَ بد سلوکه اونیوه

★★★★

تا چې قط کړلي اشنا دَ بڼو شوکې
په سلګو کې مې لاهو کړې دَ غم کوکې

خپل خواهش مې دَ خلوت پرده کې پټ کړو
چې هستی مې دَ ارمانه وه وړوکې

نن دې مات څانګونه نهٔ ژاړې دنیا ته
چې په وینوئ سرې کړې وې مخوکې

یا دا غلهٔ ډېر زورَور دی یا ړاندهٔ دی
په رڼا ورځ مې کوی دَ کوره شوکې

عندلیبؔ ځکه دې ښار کې رُسوا ګرځم
چې په چړ غوښتو مې اولیدې ملوکې

★★★★

په رښتيا وو په رښتيا دَ تماشې شو
چې ناشنا شو نو اشنا دَ تماشې شو

چې دَ چا وو نو زما دَ تماشې وو
چې زما شو دَ هر چا دَ تماشې شو

چې دَ ګُل دَ مخ په مينه باندې مست دے
کۀ تک تور دے خو بورا دَ تماشې شو

چې تتندے ږدمه نو زمکه رانه تښتي
باغي سر مې دَ دُنيا دَ تماشې شو

عندليبؔ به ورته بيا په چغو ژاړم
کۀ جهان مې دَ ژړا دَ تماشې شو

★★★★

Pukhto.Net

○

ما ته دې زما خبره اونۀ کړه
بيا دې په رښتيا خبره اونۀ کړه

مرګ به راته ستائې نور به څۀ وائې!
چرته دې ناشنا خبره اونۀ کړه

ځان دے ځان دے سر پرې ځان له څۀ خوږ[1] ے
چا راته دَ حيا خبره اونۀ کړه

غر دَ جهل ښومره سپوږمۍ اوخوړې
ستورې دَ سبا خبره اونۀ کړه

پنډ دَ اوښکو ښه دے کۀ دَ زړو غر
زړۀ راته صفا خبره اونۀ کړه

[1] خوږوې



Pukhto.Net

ژبې چې خاموشې وی مجبورې وی
سترګو راته لا خبره اونهٔ کړه

راشې ولې؟ ځې ولې؟ خبر نهٔ شوم
ساه راته رسا خبره اونهٔ کړه

درد دَ عندليبٓ څومره ښکلا لری
خلقو دَ دُنيا خبره اونهٔ کړه

★★★★

Pukhto.Net

## سبق

دَ عقل خاوندانو لره دا سبق پوره دے
دانې دَ خاورو لاندې شی فصلونه را زرغون شی

کهٔ سر راله سامراج دَ بغاوت په تور قلم کړی
تنه به مې هزار باغيان سرونه رازرغون کړی

دا چې جذبې ته مې جذبات نهٔ پرېږدي
ژوند مې څو ترې احساسات نهٔ پرېږدي

تا ته مې ستا قیصه په دې اوکړله
دَ ځان قیصې ته مې حالات نهٔ پرېږدي

عاشق دَ کور مجنون په کلي ښه وي
ور چې ساتي نو ور دې مات نهٔ پرېږدي

زړهٔ مې دَ اوښکو ډنډ کې سپین نهٔ شولو
ځکه چې کاڼے خپل صفات نهٔ پرېږدي

ما ته دې لار دَ مېخانې اوښائي
شیخ دې مندر پسې جُمات نهٔ پرېږدي

عندلیبؔ ځکه بېخودي خوښووم
خود مې خودي، ته دومره زيات نهٔ پرېږدي

★★★★

چا به دَ قسمت دَ اسمان ستورو ته کتل
چا به دَ عمل ګُلو سمسورو ته کتل

ما به چې لټون کوو دَ نُور او دَ بشر
زر به مې دَ عِشق دَ کتاب تورو ته کتل

څکه مو ښکاره نهٔ شوې دَ زړونو رنګینی
خلقو به زمونږه شونډو سپورو ته کتل

نورې نورې چارې به مې اوشولې په زړهٔ
یار چې به زما په مخکې نورو ته کتل

تا به دَ تاجونو په غمو کې کوو ژوند
ما به دَ وطن خړو سرتورو ته کتل

سترګې وې بانهٔ وو عندلیبؔ وو او ګُلاب
سترګو به مې دغه دوه خلورو ته کتل

★★★★



Pukhto.Net

ولـې غـرږوې عبـث
کـانړو ته نغمې عبث

چـا تـه ترانـه عبث
چـا تـه خـزانـې عبث

زړونـه چـې لیدل کوی
سترګو ته پردې عبث

مونږ ته انتظار اسان
ښکلو ته وعدې عبث

ما په ځان کې اومـوندو
مـا تـه مسئلې عبث

ورځـه ئې دُنیا پسې
چورلې لـه کعبې عبث



Pukhto.Net

فکر چې قېدي وي نو
سېل د مېکدې عبث

دا بې سره سر ورته
پښوکښې ځله رډې عبث

تنګو تنګو زړونو کې
مينه لټوې عبث

غاړه د لوټې عبث
غاړې ته تسپې عبث

ستورو راته چغې کړې
لاړې درنه شپې عبث

ښکاري عندليبؔ درته
اوکړلې قيصې عبث

★★★★

Pukhto.Net

زما نظر زما په حال نشته
په دې خبره کې جنجال نشته

ستا دَ يادونو په وربځو کې هم
چرته يو څاڅکے دَ وصال نشته

ما وې منګے مې چرته اونۀ ليدو
چا وې ګودر چا وې کُلال نشته

چې استقبال ئې په ماتم نۀ کووم
زما په ژوند کې داسې کال نشته

ظالم مې خلله له اسمانه ولى
زما دَ کور خو يو دېوال نشته

هلته مې وران شُو دَ مېنې ګُلونه
دلته دَ تُوت په ښاخ کې تال نشته



Pukhto.Net

ما مې شړۍ په وجود ټينګه نۀ کړه
ځکه په سر دَ جانان شال نشته

اوس چې دا خپل ښتوکے تش ګرځووم
اوس دې مشکنې په روميال نشته

زۀ کۀ په سر باندې دستار نۀ لرم
ستا هم په زنه باندې خال نشته

تاوده حالات ورله قلم لمسوی
په عندليبؔ کې هيڅ کمال نشته

★★★★

Pakhto.Net

دَ جنون دشتې ازغنې هیبتناکې
زهٔ لا روغې ګرځووم دَ پښو تېناکې

راته اوروې قیصې ډېرې دردناکې
لرې سیمې دَ زړګوله درده پاکې

نهٔ دې خوښ یم نهٔ مې خوښه ئې خبر یم
نور مې خله ازمئې دُنیا چالاکې

لېونی دَ لېونتوب په دولت خوښ وی
دا خو روغ دی چې کړی چارې هوسناکې

کهٔ ژوندون دَ غلامۍ وی زر کلونه
خوښوومه ترې زهٔ دوه ورځې خپلواکې

کهٔ نظر کې دې نظر وی عندلیبّه
هر منظر کې واقعې دی عبرتناکې

★★★★

○

دغه دوه سترګو لیدلو له راځمه
چې مئین یمه نو مینه به پالمه

دَ خندا پرده پرې اچووم لګیا یم
دَ دردونو سرمایه پټه ساتمه

دَ انګار سکروټه بڼه ده چې ئې راکړه
دَ زړهٔ زخم مې پرې هر وختې داغمه

بې دیدنه ئې نور هیڅ لالچ هم نهٔ وی
ملنګان ځکه تر ټولو ډېر ستایمه

چې زما دَ غر ممانړې پکې سوزی
دَ قصرونو دنګې سروې به سېزمه

عندلیبه چې ئې خوئې دَ سړو نهٔ وی
په سړو کې به ئې څنګه اوشمارمه

★★★★



Pukhto.Net

چې دَ ځان په تماشه شم
په خپل حال باندې خفه شم

چې ئې نۀ وینم ژړېږم
چې ئې ووینم نشه شم

لېونے کړم غم دَ هجر
مرګه راشه چې دمه شم

له دُنیا کله پټېږې
کۀ لوګے شم کۀ لمبه شم

هاغه پورې غر به یوسم
خو احسان دَ چا وړے نۀ شم

چې انسان په غرور وینم
خُدائېګو تېول نشه نشه شم

Pukhto-Net

دَ مېلمه لند مېلمستوب وی
دَ مېلمه څله مېلمه شم

چې مې تپ دَ جنون وریت کړی
په دریاب دَ عِشُق کې ښه شم

دے مې سر ته خېژوی خو
زهٔ يې وېخ ته ورغوپه شم

چې يې حُسن جلوه گر شی
زهٔ پښېمانه په توبه شم

چې دَ ځان په لټون اوځم
عندلیبؔ خوَله خوَله شم

★★★★

فکر خنګه زهٔ راستون کړم له پروازه
نهٔ ګټیار شلېږی نهٔ تهٔ مات شوې شاهبازه

دَ منګی دَ غُپ اواز چې ورسره شي
دَ رباب هره نغمه له درده سازه

چې زما اوښکې ځیګر دَ هېرې پوست کړو
دَ سِتار ژړا خالی نهٔ ده له رازه

بیا به څانګې دَ نخترو مستۍ اوکړی
دَ شپونکی شپېلۍ دَ یو پوکی موتازه

درَمندُونو کې دې ړول سُرنا غرېږی
کور خالی مه شه دَ تمبل دَ اوازه

چې دَ سرو لاسو اتنې پکې کېږی
دَ پُښتون هره ټپه دې وی ښیرازه

عندلیبؔ وائی کهٔ ړېږې وسې اوکړې
دا کلتور دَ ختمېدو نهٔ دے غمازه

★★★★



Pukhto.Net

راشه بې لټا نه لېونے شومه
یه خوږه جانانه لېونے شومه

یو نظر کتل دَ هوش په بیعه وو
څومره په اسانه لېونے شومه

تۀ مې لټولې دومره لاړمه
ورک شومه له ځانه لېونے شومه

بېر شو دَ مستۍ او دَ نیستۍ لغړ
ابسته دَ حیا نه لېونے شومه

داسې پوره نۀ شولې مجبور شومه
اے دَ زړۀ ارمانه لېونے شومه

ګل شګلا شیندله، عندلیبؔ نغمې
راغللې خزانه لېونے شومه

★★★★

Pukhto.Net

○

چې بورا دَ ګُل سينې له سينه ورکړي
خپله تنده دَ وصال مې کوروکر کړي

حقيقت دَ تريخ ژوندون مې خلوتي کړي
تصوّر دَ چا دَ حُسن مې لوپر کړي

چې ئې سترګې دَ درد اور نۀ شي زغملے
ياران خلـه په زړګي زما نظر کړي

دَ وِجدان پيالـه مې خُود له سره يوسي
بې خودي مې دَ جنون په دشته سر کړي

چې دَ شر علاج په شر کوي لګيا دي
خيال دَ امن دې دَ ذهن نه بهر کړي

سړيتوب بغېر دَ عقل نه سپي توب شي
چې دليل نۀ لري هغه خلق شر کړي

Pukhto.Net

دَ خودۍ هره لمحه دَ بادشاهۍ وي
غلامان به له دې رازه څوک خبر کړي

چې پړقبړې دَ حالاتو په بټۍ کې
لبونی دی چې له اوره لا خطر کړي

چې په چغه کې پېغام دَ خوشحالۍ وي
عندليبّ په زړګی باندې اثر کړي

★★★★

Pukhto.Net

دا زړهٔ مې هلته نهٔ ځي، چې ورپکې وي سېورے
يا رانـه مـخکې زغلي، يا راپسې وي سېورے

چې دَ جـنـون مېـره کـې، دَ عِشق کېميا لټووم
اوس رانـه سـر ټـکوي، خـولې خولې وي سېورے

پـه کـورکـې دَ زړهٔ کې، دوه ارمـانـونـه لـرم
چې په هغې وي سېورے، چې دَ هغې وي سېورے

مرګـه تـادي اونـهٔ کړې، پـه نمر دَ هجر سوزم
بې دَ وصـال دَ خـوږو، ډېر بې مزې وي سېورے

وُدهٔ رهبـره دَ قـام، راشـه عبرت تـرې واخـلـه
شپـونکے هله وُده شي، چې په رمې وي سېورے

يـو ځل چې اونوشي ځوك، جام دَ وحدت دَ مئيو
پـه هـر ډګـر دَ ژوندون، اړې خـرې وي سېورے

جـانـانـه دواړه خـوش دي، دَ عـنـدليـب لېونی
کـهٔ وي دَ زلـفـو سېورے، کـهٔ دَ چنې وي سېورے

★★★★

چې خپل احساس مې په لمبو دَ بې واکۍ اوسېزي
دَ پښو تلې به مې مزل دَ خپلواکۍ اوسېزي

ما له تیلے او تاله تېل درکوی ګورو ورته
خپل کورکے رابانديې څۀ په چالاکۍ اوسېزي

دَ عالمي سامراج دَ امن په معنیٰ پوهه یم
زما خروار اوسېزي خپله چیتاکۍ اوسېزي

دا اوسني حالات کۀ لږه موده نور پاتې شُو
دا نوے نسل به مې تهول په بې باکۍ اوسېزي

خُدایه دَ میني ورورولۍ هوا راوالوزوې
چې نفرتونه مو له مېنځه په پاکۍ اوسېزي

اے عندلیبه اشاره کنایه نۀ پېژني
نرے وجود به درله پېرې کاواکۍ اوسېزي

★★★★



Pukhto.Net

چې دَ خیال په رنګینوکې مې رنګین شي
دا ازغی ماحول به ګُل ورین شي

چې مې سر دَ خاموشۍ په اتڼ مست شي
ګوټ له زهرو نه کوومه خوګبین شي

په کموالی دَ دولت کې نیستي نشته
چې بې یاره شي سړے هله مسکین شي

چې دَ ذات په خول کې ګېر وي سړے نهٔ دے
سړے هغه چې دَ بل په غم غمګین شي

تهٔ چې سپین تورو ې دغه دې عادت دے
دَ چا زړهٔ به درته وایه څنګه سپین شي

Pukhto.Net

وی په زړونو کې ئې نورې په خُلو نورې
ځکه زړهٔ مې دَ دُنیا له خلقو شین شی

چې نهٔ پېژنی حقونه نهٔ ئې غواړی
دَ پُښتون په تباهۍ مې پوخ یقین شی

عندلیبه چې مرام ئې دَ ژوند نهٔ وی
داسې خلق نهٔ دَ دین نهٔ دَ سادین شی

★★★★

## مرګے

په بل مقام کې ترې پنا نشته دے
مرګے ظالم به دې مزار کې پرېږدی

ژوند په مثال دَ بې وفا ملګری
سړے اکثر په نیمه لار کې پرېږدی

○

په ژوند چې مې دَ ژوند سوې قيصې له نۀ راځې
چې مړ شمه نو بيا دې جنازې له نۀ راځې

ړاندۀ دي دَ رنګونو نظارې له نۀ راځې
کاڼۀ دي ددې ساز خوږې نشې له نۀ راځې

پتنګ کۀ دَ ګلونو دَ ښائست نه دے مُنکر
بورا چرته په عُمر کې لمبې له نۀ راځې

کۀ ستا دغه عادت دے چې ازغی کړې په لار
زما دغه قِسمت دے چې مې پښې له نۀ راځې

دَ دار څوکه به ښکُل کړمه دَ مينې په اقرار
خو تۀ کے دَ انکار دَ سره خُلې له نۀ راځې

Pukhto.Net

سحر کې دې غم راکړو په ماښام کې دې غم راکړو
نامرده په هر وخت کې سرې دې له نۀ راځې

په لړو کې ئې کار نۀ کېږې ولې ئې دې پکار
شېبخان په دې خبره مېکدې له نۀ راځې

چې راشي عندليب شيندي سوزونه په چمن
سپرلے به ئې ترکومې تماشې له نۀ راځې

★★★★

Pukhto.Net

چې په ازغي ازغي ماحول کې دیدنونه اوشي
لکه په ځانګه دَ کیکر کې چې ګُلونه اوشي

شهباز نظر چې مې دَ ښکاره توبه ګار شي کله
دَ غرۀ لمن کې دَ زرکوړو اوازونه اوشي

زۀ پکې تُخم دَ ګُلونو هسې نۀ کرمه
یو ځل به چرته په دې للمو بارانونه اوشي

دَ نفرتونو تېکدار چې چرته اورسېږي
په هغه سیمه کې جنګونه فسادونه اوشي

یاره نشه دَ بغاوت مې هله سر ته خېژي
دَ حق په لاره چې دَ جبر دېوالونه اوشي

اے عندلیبه دَ یادونو ډیوه بله ساته
چې دَ هجران دَ تور تمونو علاجونه اوشي

★★★★

ځوک مې غلـهٔ دی دَ نوړی
ځوک مې ناست دی په مری

ژوند مې داسې سپېره سپور
لـکــه ځـنـه دَ بـوړی

لـکـه ځـانـگـه دَ گُلاب
چـې وهـلـې وی ږلـی

کـهٔ دی بـرخـه کې زمـا
خـالی شـکـور سـړه تبی

پُښتونـخـوا داسـې گـېـم
لـکـه غبـږه دَ ابـی

عـنـدلیّب ئې کـړلو هېر
ځـکـه نـهٔ ځـاری بلـی

★★★★

○

دَ وخت په قتل کې هم خوند شه دے
یاره په فکر کې څه ژوند شه دے

په تندی داغ دَ غُلامۍ نهٔ لرم
په زورِ قمیص کې مې پېوند شه دے

تا چې تېکه دَ صفايۍ اخستې
تا له خوګېر چاپېره ګند شه دے

شپږ له په دې خبره خوب نهٔ ورځی
چې دَ بروزې نه مړوند شه دے

کوه بالغ ته په دلیل خبره
خو دَ ماشوم دپاره پند شه دے

هسې نهٔ چرته ځان په غم واړوی
عندلیبٙ دغسې پابند شه دے

★★★★



Pukhto.Net

چې شم بې تاب ورځمه
لـړ پـه حسـاب ورځـمـه

ځـاځکـے مې اوپېژندو
اوس پـه دریـاب ورځـمـه

خاورې! رایاده دې کړی
چـې پـه ګُلاب ورځـمـه

چـې لـړې تلې غـوارمـه
بیـا پـه کتـاب ورځـمـه

وی پـه دیـدن کـې شِفا
ځـکـه خـراب ورځـمـه

چـې یـو نـقـاب سپړمـه
پـه بـل نـقـاب ورځـمـه

Pukhto.Net

چې دَ جلاده تبښتم
نو په قصاب ورځمه

لکه ملنګ راځمه
لکه نواب ورځمه

څه عندليبؔ اورمه
څه په رباب ورځمه

★★★★

## قطعه

پرون درونډ لکه دَ غرو و
دا چې نن سپکه بڼه ده

يا مې قام په خوب اوده دے
يا شپېلۍ زما کنډه ده



Pukhto.Net

چې دَ وصال دَ شپې سبا راشي
ورځ دَ قيامت هله په ما راشي

زر دې دَ سترګو ځکه اوبا ئيلمه
زر دې دَ سترګو نه حيا راشي

رېديه ستا دَ مستۍ تول به اوکړې
څوک لېونے به دې په خوا راشي

يا دې ساقي جامونه نهٔ کړنګوي
يا دې سپرلے په پښتونخوا راشي

دَ تن لمبې مې پکې نهٔ ويني څوک
ښارکې به خنګه اوس رڼا راشي

چې ددې خلقو بې حِسۍ ته ګورم
خپله ژړا پورې خندا راشي



Pukhto.Net

مرګ درته ګوته ځنډولے نۀ شی
ژونده چې ژوند در کې رښتیا راشی

چې په نړۍ کې چرته اور اولګی
تپ ئې زما کور ته رسا راشی

چې دَ یار ذکر عندلیبؔ ته اوشی
لکه په مړی کې چې سا راشی

★★★★

Pukhto.Net

کول غواړی په ژوندون کې څه دَ کار کار
نور به او نهٔ شي دلداره په اِنکار کار

چې دَ یار په زړهٔ کې ځائې شوم نو پوره شوم
اوس مې نشته په رقیب او په رهبار کار

دَ ګُلونو خاموشي راته ګویا شوې
چې مې نهٔ کړو دَ زلفو په یو تار کار

اوس دَ ساګو په خوږو شُکر اوباسه
چې رندو ته دې سپارلے وو دَ ښکار کار

نور حساب دَ ګُناهونو راله مه کړه
په یارۍ کې مزه نهٔ کوی دَ شمار کار



Pukhto.Net

دَ خپل ځان دَ بربادۍ سامان ئې جوړ کړو
ما لیدلے ددې دور دَ هوښیار کار

چې دَ بر کلی اخون ټوپک ته لاس کړو
پاتې څۀ شو دَ لښکر او دَ سرکار کار

دا دَ میني معجزه وه عندلیبه
په خلیلؑ باندې چې نۀ کوو انګار کار

★★★★

Pukhto.Net

سترګو خوړلے نۀ دے
دار ته ختلے نۀ دے

دلته دَ زور مه وايه
دا هغه کلے نۀ دے

سر مې بائيللے دے خو
غر مې بائيللے نۀ دے

خاښ ته مې شپه کړې ده
خاښ مې ښندلے نۀ دے

چرته داغلے دے چا
هسې داغلے نۀ دے



Pukhto.Net

زما نظر دې ښکلے
یار دومره ښکلے نۀ دے

مونږه کړلے فصل
مونږه رېبلے نۀ دے

زړۀ ئې ورځی په چکر
عندليبؔ تلے نۀ دے

★★★★

قطعه

په زړۀ تيګه ايښودے شم
خو دَ سر سره به څۀ کړم

چې مې جام له لته ورکړه
دَ شپونکی شپېلۍ نشه کړم

Pukhto.Net

چې انسان ورته عزیز دے
نو انسان څکه غوریز دے

ژوندون څۀ دے عقل څۀ دے
تش دَ تور او سپین تمیز دے

دا جهان پرې ټول ودان دے
عِشَق ډېر عجیبه ځیز دے

هر بشر مې دَ زړۀ سر دے
په ختیز کۀ په لویدیز دے

شر په شر ختمول خُدائیګو
دَ نادان سړی تجویز دے

عندلیبه ځان دې هېر کړه
چې دې فکر ټولنیز دے

★★★★

Pukhto.Net

پـه کـریـکـوکـې بـه ورکـه نهٔ کړم کریکه دَ ژړګی
ساتـمـه پـه پرهر دننـه څړیکـه دَ ژړګی

حـدونـه دَ خـاوریـن حُسن چې ګوری لېونـی
دی ستـرګـې دُښمـنـانـې پـه شریکه دَ ژړګی

چـې مـا تـه دَ ګُـلـونـو قتلول نـهٔ دی ایزده
ازغـی دې راتـه اوشیـنـدی پـه لیکـه دَ ژړګی

قـلـمـه! لـږ دَ عقل دَ حـصـاره رابهـر شـه
یـوه نیـمـه خبـره پکـې لیکـه دَ ژړګـی

چې سترګـو مې دَ زړهٔ حـالـونـه اووئیل په جار
دنـیـا تـه مـې ښکـاره شولـه اړیکـه دَ ژړګی

غـوځـبـږی دَ نـفـرت پـه یـو پوکی باندې اکثر
رشتـه وی دَ ژړګـی سـره باریکـه دَ ژړګـی

ډیـوه دَ چـا دَ یـاد بـلـه ساتلې عندلیبؔ
دُنیـا بـه وی تـرخـو پـورې مـالـکـه دَ ژړګـی

★★★★

○

سُور شفق چې زيړے نمر په غبرګې واخلي
دا منظر راله نظر په غبرګې واخلي

چې حالات راته دَ غنو بالخت کيږدي
ستا يادونه راله سر په غبرګې واخلي

په سينه کې ستا غمونه داسې ځائې کړم
لکه دشته چې لښکر په غبرګې واخلي

بيا به چرته دَ وصال بادونه راشي
بيا به سروه صنوبر په غبرګې واخلي

ته چې داسې په کړو سترګو راګورې
تورې خاؤرې به مې زر په غبرګې واخلي

دَ کارغانو سېل به لاړ شي عندليبّه
خپل بازونه به خبر په غبرګې واخلي

★★★★

نورو خلقو جماتونه لټول
ما دَ خپل زړگی گوټونه لټول

پتنگانو په لمبو کې لټولې
بوراگانو به گلونه لټول

هر يو رنګ راته پيکه پيکه ښکاره شو
ستا تصوير له مې رنگونه لټول

ستا دَ سترگو هغه سوال چې لاجواب کړم
ټوله شپه مې کتابونه لټول

ځانله څکه شو داغدارو کې حساب
چې په نورو ئې داغونه لټول

عندليبؔ که ئې په دنيا پسې زهير وې
چا به ښکلی زړونه لټول؟

★★★★



Pukhto.Net

دې زما دَ زړهٔ لوخړې
کهٔ خوږې شوې په غرو لړې

نهٔ به شم په ژړا ستړے
نهٔ به شې په جفا ستړې

په ګُلونو به ورنهٔ کړم
یاره ستا دَ لمن تړې

دا ئې وروځې په مخ ښکارې
کهٔ لړم څُله وازه کړې

دې وې ګوره راته مړه
ماوې مړ به شمه مړې

زهٔ له سُود او زیانه تښتم
عقله تهٔ مې ورته تړې

رقیبان درنه چاپېر دې
عندلیبؔ دَ خوا نه شړې

★★★★



Pukhto-Net

○

چې جذبه مې له صراطه پورې وتې
نو جنت ته ستا دَ حُسن ننوتې

دَ مستۍ سېلابه ! نهٔ ښکارې رندو ته
زمانه مې په زيرِ رنګ باندې تېر وتې

دا ئې خال په سپينه زنه باندې ښکارى
کهٔ شودو ته دَ جامن دانه پرېوتې

په رُخسار ئې سرهٔ څوانکه راختلې
کهٔ سپرغۍ دَ ګُل په پاڼه پورې نښتې

دا مې څکه سترګې پرې پرې کېږى
چې دَ کانه دَ ياقوتو ده راوتې

Pukhto.Net

کوم سرې چې راته بد دَ دلبر وائی
ښخوی مې دَ ارمان په مرۍ کوتې

دې نظام راته دا يو هُنر ښودلے
په زړو خرانو نړو نوې کتې

عندليبّه ده هغه فلسفه خوشې
چې تخليق دَ شاعر کښې تشې قرتې

★★★★

## ولی اللّٰه

نهٔ مې خپل ځان ژاړمه
نهٔ مې ارمان ژاړمه

ولی په دې يمه چې
غم دَ دوران ژاړمه

Pakhto.Net

واکداره نوره ګواهي درته دَ چا پکار ده
دلته رندو هم چغه ويستې چې رڼا پکار ده

چې هم ترې ځانګې پرېکوو او هم ترې سپورے غواړو
دَ داسې ونې په قسمت باندې ژړا پکار ده

يو راته مرګ رايادوی بل رانه ژوند هېروی
اوس خو ستائينه دَ ساقي نهٔ دَ مُلا پکار ده

نن دې دَ سترګو دَ پيالو نه خُمارونه ځاځي
نن دې دَ حُسن دَ رنګونو نه ځه غلا پکار ده

ولې په سترګو کې غرېږی شونډې نهٔ رپوی
دَ يار په مخ کې خو خبره ښه صفا پکار ده

ماوې دَ زلفو خوشبویی له ئې هوا پکار ده
خو نهٔ دَ زلفو خوشبوئی ئې ده هوا پکار ده

چې دَ جونګړو په تیَرو هډو اونهٔ بلبډې
زمونږ دَ سیمې رېناګانو له سزا پکار ده

چې دَ خپل سپوری واکدار نهٔ دے دَ چا سپوری څهٔ کړی
دَ عندلیبؔ په خپل اختیار باندې دنیا پکار ده

★★★★

پښتونخوا

فکر مې قېدی نهٔ دے
ځکه زهٔ ازاد یمه

کور دې پکې نهٔ لرم
زړونو کې اباد یمه



Pukhto.Net

دغـه مخ تـه نظرونـه نـهٔ ټینګیږی
دې نظـر تـه حِجـابونـه نـهٔ ټینګیږی

چې جنون تـه مې منزل سجدې اوکړې
اوس مې پښو تـه ګړنګونه نهٔ ټینګیږی

دَ ساقـی تنـدے پـه دې خبـره تـړیو دے
چې مې تندې تـه جـامونه نـهٔ ټینګیږی

دَ ستم دریاب لـه نورې چپې ورکړه
لامبوزن تـه دریـابونـه نـهٔ ټینګیږی

دَ عـاشق غـریـب پـه دې کـې څـه ګُناه ده
چې جذبـو تـه رواجونـه نـهٔ ټینګیږی

راته ذکر دَ دوزخ ځکه عبث دے
دَ زړهٔ تپ ته مې اورونه نهٔ ټینګېږی

لاس او ژبه کهٔ مې اوتړې واکداره
په زنځیر کې مې فکرونه نهٔ ټینګېږی

تصوّر دَ عندلیبؔ چې ئې لیدلے
په تصویر کې اوس رنګونه نهٔ ټینګېږی

★★★★

Pukhto.Net

تمـاشبيـن وومـه خو اوس دَ تمـاشې شوم
چـې مـزې مـې لټولـې بـې مـزې شـوم

تخت چې بائيلی نو دَ بخته ملزم جوړ کړی
چې پـه مـا بـه راپسې وو ورپسې شوم

دَ وصـال هـره لـمحـه دَ بـادشـاهۍ وه
چـې ټکو پسې پره شوم دَ ټکې شـوم

دَ خبـرې نـه خبـرې جـوړوومـه
چې خبـر دې دَ خبـر دَ فـلسفې شـوم

هـره اوښـکـه مې بلـېږی چې تـوئېږی
اوس بـې نيـازه دَ تـور تم اؤ دَ لمبې شوم



Pukhto.Net

زما زړه ته چې کور وائې دا پوره ده
په لټون کښې دې عبث خولې خولې شوم

زۀ له مرګه مُنکر شه ووم مُلا جانه
چې فنا شومه نو يار ته ورنزدې شوم

زړۀ مې وائې شه دَ کانې زمانه وه
چې قبدی دَ کمپيوټر دَ زمانې شوم

★★★★

PukhtoNet

○

دَ خپله ځانه مې خپل ځان غوښتلو
کهٔ دَ جانانه مې جانان غوښتلو

زهٔ خپله تنده چا ته نهٔ ځلووم
ما خو ګلونو له باران غوښتلو

دَ ګُل ورېمه کهٔ زمانهٔ شوه خبر دے
دَ ګُل وجود له مې مکان غوښتلو

چې دَ خواهش نهٔ پرې جذبه ساتمه
ضمير مې څکه دومره څوان غوښتلو

ما دې په زړهٔ باندې زړهٔ اونهٔ کړلو
تا رانه زړهٔ دومره ارزان غوښتلو

نن مې هغه دَ زړهٔ له کوره نهٔ ځي
ما چې له خُدايه په ايمان غوښتلو



Pukhto.Net

هغوئ دَ زړونو کلی وران ګرځوی
چا چې دَ مینې ښار ودان غوښتلو

یو ئ وجود دَ سره نهٔ زغملو
بل ترې دَ ژوبل زړهٔ تاوان غوښتلو

فکر غُلام شو او وجود شو غلام
عندلیبؔ څکه بل دوران غوښتلو

★★★★

PukhtoNet

ځکه خفه نن په رقیب یمه زهٔ
وائی خرڅ شوے په نصیب یمه زهٔ

غریب په دې یم چې جاهل یادېږم
جاهل په دې یم چې غریب یمه زهٔ

مرض مې ځکه مئین شوے په ما
چې هم مریض یم هم طبیب یمه زهٔ

سترګې دې خوارې شی پټېږی اکثر
ښه ده چې زړهٔ ته دې قریب یمه زهٔ

چا ترې پښې د وینو ډکې یوړې
چا وې ختلے په صلیب یمه زهٔ

د خپل ارمان ګُل ته نغمې غږوه
تا خو به وې چې عندلیبؔ یمه زهٔ

★★★★



Pukhto.Net

چې صنم رابـانديږ ګران دے

هـر يـو غـم رابـانديږ ګران دے

ستا ستم تـه ځـکـه خـاندم

خپـل قسـم رابـانديږ ګران دے

پـه مـزل کـې شوخي راغلـه

چـې قـدم رابـانديږ ګـران دے

جهـان ځـکــه ودان غـواړم

ستـاسـو چم رابانديږ ګران دے

يو ساعت مې نـهٔ هيرېږي

خُدائيګو سم رابانديږ ګران دے

سپين سبـا پکـې ځلېږي

تـور تـور تم رابانديږ ګران دے

نن ئې اېستـه پـه جار اووې

دا کــرم رابــانديږ ګــران دے

راکړه جام دَ وصل راکړه
نن ئې خښم راباندې ګران دے

سُور رېدے چې ورسره وی
زیړ شړشم راباندې ګران دے

هُم کېموړ مې دَ زړهٔ سر دے
هُم ایلّم راباندې ګران دے

ستا دَ قهر دَ زغم نهٔ یم
ستا کرم راباندې ګران دے

دَ زګې پُښتنې خاورې!
هر موسم راباندې ګران دے

عندلیبٓ په دې باچا یم
چې قلم راباندې ګران دے

★★★★

Pukhto.Net

○

چې دَ وصال هر يو مازيګر بائيلمه
لکه چې غرونه زر بائيلمه

عقله په هېڅ باندې دې پوهه نهٔ کړم
چې ګُل ګټمه نو هنر بائيلمه

سپرلي غانټول له څنه سترګه اوکړه
اوس خو به خامخا نظر بائيلمه

ستا دَ جاګير او سرمائې دپاره
لېونے نهٔ يمه چې سر بائيلمه

خلق ئې وېخ دَ سمندر کې ګوري
زهٔ يم چې موتي کې ګوهر بائيلمه

Pukhto.Net

خوښ وی زما دَ شوګیرو ملګری
ځکه په ستوری باندې نمر بائیلمه

لکه دَ ځان راباندې ګران دی خلق
اکثر په دې خبره شر بائیلمه

اے عندّلیبه چې له سترګې توئ شی
په هغه څاڅکی سمندر بائیلمه

★★★★

Pukhto.Net

حالات به ئې ترڅو پورې ساتي خوارۀ وارۀ
پراته دې وی په لارو کې غمی خوارۀ وارۀ

وږمې ئې د نمبرو د ګلونو کړې تالا
په غرونو مې وربږی مږدکی خوارۀ وارۀ

چاوْدونه چې دې نۀ وو آئینه کې د زړګی
ګردونه شی اکثر په یو پوکی خوارۀ وارۀ

سکون به مې د زړۀ دشته کې اونۀ کړی دمه
چې سر له مې یادونه ځی راځی خوارۀ وارۀ

بدنامې شوې عبث هسې خولې د پشکال
خالونه د تندی مې کړل ځونډې خوارۀ وارۀ

یو ځل خو به ئې سر له عندلیبه راشي خود
راغونډ به شی د خپل بابا بچی خوارۀ وارۀ

★★★★



Pukhto.Net

ټولې توبې خُم ته نزدې کېږدي
جام ته چې لاس کړی نو تسپې کېږدي

خپل ارمانونه مې زړ مخې ته شي
څوك چې په وچو پاڼو پښې کېږدي

هغه په دومره لنډ او تنګ عمر کې
څومره اوږدې اوږدې نېټې کېږدي

دلته چې څومره دَ ګندونو ډك وي
ځان له هغوئ پاکې نامې کېږدي

زهٔ ئې ګڼم دَ حوصلو خاوندان
څوك چې په کاڼو کې شيشې کېږدي

چې عندلیبؔ قیصه دَ لوږې کوي
شيخ په غوږونو کې شوږې کېږدي

★★★★

ننن دي ځکه بې مزې دے بوئ دَ بنگو
چې رباب ته دې ځونډۍ دی دَ لونگو

زما زړهٔ چې د نغمو په بن کې ورك شو
کډه اوکړه دبوالونو دنگو دنگو

ناصحانو نن مې غم له دمه ورکړۍ
چې په خوا باندې مې رانهٔ شئ بدرنگو

دَ خيالونو رنګينۍ چې پرې بوج کېږي
ياره څهٔ اوکړم په زړونو تنگو تنگو

په پيلځکې پورې مالګه وړي پټې ته
دوړَوی به ئې دَ پاسه دَ بادرنگو

کهٔ په اوړی کې به ښې يخې شوملې وې
په جړه کې به پېتې وه دَ مشنگو

پُښتانهٔ خو داسې نهٔ وو عندليبه
دا خو اوس دور راغلے دَ بې ننگو

★★★★

یاره چرته به دَ میني باران ګڼ شي
راتازه به پرې دَ سرو ګلونو بڼ شي

تهٔ سرونه پربکوې څوك غږ اونهٔ کړي
زهٔ چې مینه یادووم چاپېره هڼ شي

چې زما استحصال کېږي غلے ناست وي
چې پخپله پرې راپېښه شي چڼچڼ شي

بیا به هم په خپله لاره تندے ږدمه
کهٔ سینه مې په ګولو باندې چڼ چڼ شي

تنګ نظری به ئې زورونه خپل اوبهٔ کړي
وُرکولے مې تپه شي نهٔ اتڼ شي

یو ناصح به باعمله پېدا نهٔ شي
عندلیبه کهٔ جهان ورپسې چڼ شي

★★★★

ما به دَ خپل ارمان په بار ستړے کړی
یار به دَ نورو زړونو ښکار ستړے کړی

زهٔ چې مې دوړه په کچکول نهٔ پرېږدم
تا به اخر دا خپل انکار ستړے کړی

په دلاسه او تپوس نهٔ رغېږی
مرض چې اوږد شی بیمار ستړے کړی

ژوند مې شو تېر په انتظار انتظار
څوك به مې څهٔ په انتظار ستړے کړی

زهٔ عندلیبؔ درته رشتیا وایمه
فن چې بې قدره شی فنکار ستړے کړی

★★★★



Pukhto.Net

بې لـه اوره مې نور هېڅ نهٔ دی لیدلی
دَ یـو اوره مې بوخـی بل تـه مې ولـی

زهٔ بـه څـهٔ لـه اوره ډار اوکړم نـاصحـه
چې سکروټې مې په زړهٔ پورې نیولی

لـوپټـه دې دَ شفق سرخۍ تـه برېښی
کـهٔ بـڼې دې دَ طـاؤس پکې تومبلی

راتـه میـنـه کې وفـا څکـه ایزده ده
چې مې پېـه دَ پُښتـنې مـورې رودلـی

تا په شمار یو څو وختونه اوښکې توئ کړې
ما بې شمېره په خپل حـال باندې ژړلی

خپل حـالت بـه بدلـول غـواړې پـخپلـه
زمـانې راتـه دا څـو ټکې ښودلـی

چې دَ شـوق دَ دریاب موجونـه شمـاری
عـندلیبؔ پـه لبونتوب کې سرهٔ شیندلی

★★★★

چې لوبې دَ بې وسو په ارمان چرته اونهٔ کړی
یقین کوه ټول عمر به تاوان چرته اونهٔ کړی

تنهاکې دَ تلو به ورته ښایمه ورځمه
په ما باندې دَ نهٔ راتلو ګُمان چرته اونهٔ کړی

رنګونو دَ مزاج ته مې دَ صبر شپول جوړ کړے
وړ سترګی مې دَ کلی پرې تالان چرته اونهٔ کړی

پکول کې دَ غانټول ګلونه څکه ګرځومه
چې څوک راباندې زېړے دَ خزان چرته اونهٔ کړی

غېټانو دَ مېوو پوستکی مه ولئ کوڅو ته
ژړا دَ خواری کښو ماشومان چرته اونهٔ کړی

جانانه دَ نظر غشی جرګه کړه مازیګر کې
چې قتل مې دَ میني دُښمنان چرته اونهٔ کړی

بچوې دَ قلم په څائې ټوپکې چوَتې کړې
ارام به زما شکلے کابل جان چرته اونۀ کړی

بېګاه ئې مېخانه کې په ګرېوان باندې توئې کړی
زاهد خو چې په دغه خُله اذان چرته اونۀ کړی

ظالم خو عندلیّبه دَ ښاروو په صف کې شماره
انسان هغه چې ظلم په انسان چرته اونۀ کړی

★★★★

Pukhto.Net

دا چې غوغا راباندې بده لګي
عشقه ريا راباندې بده لګي

چې مې د زړهٔ کورکې اونړېدو
ټوله دنيا راباندې بده لګي

شور د احساس دومره تنګ کړے يمه
د زړهٔ دړزا راباندې بده لګي

خپلو تيرو له مې غاړې ورکړې
د سوال رڼا راباندې بده لګي

چې دردوې مې هم دوا راکوې
دا ښاروا راباندې بده لګي

Pukhto.Net

د درد سیلۍ دومره زپلې یمه
چې خپله ساه رابانديږ بده لګي

سلګۍ په ستوني کې ساتلې ښه ده
ښکاره ژړا رابانديږ بده لګي

رقیب ته زړۀ د عندلیب اووئیل
ستا مشغولا رابانديږ بده لګي

★★★★

Pukhto.Net

پوهه نهٔ شومه چې څهٔ یم
داسې ورك دَ ځانه ښه یم

دا دَ څهٔ دېپاره راغلم
دا په څهٔ پسې پره یم

تهٔ مې هم تماشه اوکړه
زهٔ دې هم په تماشه یم

دَ ژوندون په وراستهٔ څلی
دَ احساس بلله ډیوه یم

چا ته څله ځان صفا کړم
خُدایه تا ته ښه ښکاره یم

ویروې مې په اور څهله
ولې زهٔ دَ خاورې نهٔ یم؟

Pukhto.Net

په غټوالي ټول جهان یم
په کچوالي کې ذره یم

دَ مزدور دَ تن خوله یم
دَ خودی دَ جام نشه یم

کوم کوم ګام به راله ناپ کړي
عندلیبؔ په تګ اخته یم

★★★★

قطعه

اے اوښکې! تهٔ څومره ئې
زهٔ خبر یا زړهٔ خبر
دا خلق خو کاڼی دی
دوئ له درده څهٔ خبر



Pukhto.Net

طمعـه مـه کړه لـه الحاجـه
لـه يـو خُدائـے غواړه محتاجه

دَ سـمـون طـمـع عبث ده
دَ ړانـدهٔ رهبـر دَ راجــه

دَ قـام مينـه مې دَ زړهٔ نـه
ختمـوے نـهٔ شي سامراجـه

ډېر شـاغـلـی دې داغـلی
دَ دُنـيـا بـده رواجــه

دَ لالـچ پـه دوړه خـړ شوې
اے دَ مينـې ښکـلـی تـاجـه

Pukhto.Net

سړیتوب درکې مېتره شو
ددې دور بد سماجه

په هر حال کې بې قرار ئې
اے زما نازک مزاجه

عندلیبه ته به ښه شې
پس دَ بدو له اخراجه

★★★★

## هائیکو

خُدایه داسې دور راغے
ستا په کور کې چړګر اوسی
زما کور کې نهر اوسی

Pukhto.Net

دَ عـاشـقـانو نـه نفـرت مـه کوه
خبر دے کۀ نۀ کـوې اُلـفت، مه کوه

پـه زړونـو کـر دَ پـرهـرونـو کـوی
دَ خپـل قـاتـل نـظـر صفت مـه کوه

مـا ورتـه وې جـفـا زغـملے نۀ شم
راتـه ئې اووې مـحبت مـه کـوه

زۀ ئې پـه سترګـو کې لوستلے شمه
مـا تـه پـه شونډو باندې ست مه کوه

زۀ بـه لـه سترګـو خاورې اوڅنډمه
تـۀ هـم الـوت دومره اوچت مـه کوه

دَ عُـمـر باد ئې لـکـه ګُـل رېژوی
غـرور دَ حُـسن پـه دولـت مـه کوه

اے عـنـدلیبـه چـې مـنزل نۀ لـری
دَ داسې خـلـقـو امـامـت مـه کـوه

★★★★

Pukhto.Net

چې يې راويښ کړي د ګړۍ ټکاري
منزل د داسې خلقو لارې څارې

په سود او زيان د دُنياګۍ څۀ کوي
ځان چې په صف د لېونو کې شماري

نۀ د ځان غم کړي نۀ د قام شېګړه
ځوانان نشه کړل د دوړې ټپارې

هسې سنډا ته اللّه هو غړوو
چرته سمون او چرته دا وران کارې

عندليبؔ کله له چاپټ اوسوزم
لمبه د شپې لوګے د ورځې ښکارې

★★★★

Pakhto.Net

○

شوقـه دَ كـار بـه دې كړم
قـامـه بېدار بـه دې كړم

غـمـى دَ اوښـكـو لـړم
غـمـه سيـنګار بـه دې كړم

كـۀ دې پـه لار نـۀ كړمه
فكره سنګسار به دې كړم

هـوَس بـه اوشـړمـه
عشقـه سردار بـه دې كړم

تـاج دَ جـنـون چې لـړم
نفسـه پيـزار بـه دې كـړم

رنـګ دَ پُښتـو كې راشـه
درده دلـدار بـه دې كـړم

Pukhto.Net

جامه کنګال به دې کړم
خُمه خُمار به دې کړم

ژونده! خوددار به دې کړم
مرګه! ګُلزار به دې کړم

ما عندليبؔ لېوه
خياله شاهکار به دې کړم

★★★★

## سياه ست

ښه شوه نور راته تك سپين شول
نور دَ نورو نه ډېر سخا شول

دې دَ تورو خېتو ډنډ کې
سپين دَ تورو نه ډېر سخا شول

Pukhto.Net

وائي چې مينه بې منته نشته
زما پښتون مزاج ته پته نشته

دَ باغي خيال په اشارو تاوېږم
جانانه تېښته له فطرته نشته

دَ سرمائې دَ دلالانو ښاره !
در کې عزت بې له دولته نشته

وحشت ئې کسب شو نفرت ئې ژوندون
دلته دې خېر انسانيته نشته

چې دَ زوال حدونه اولېټووم
زمونږ نه نور خلق په ښکته نشته

اے عندليبه کۀ نيستي ختمه شوه
په پښتنو کې يو بې پته نشته

★★★★



Pukhto.Net

○

پر ببرده چې لمبې پورې په ځان کړمه
دا دَ تیرو کلے به روښان کړمه

رنګ دَ بغاوت دومره لرمه چې
داغ دَ غلامۍ به دې پرې وران کړمه

تهٔ مې دَ نظر دَ کوره مه شړه
زهٔ به دې دَ زړهٔ دَ کلي خان کړمه

ما دَ بېخودۍ په جُرم مه نیسه
تا به دَ خودۍ په لار روان کړمه

کنګل کنګل وینه مې خوتکېږی اوس
تاؤ دَ جذبې داسې بندیوان کړمه

ستا دَ مینې زر به هله واخلمه
خپل دَ وینې څاڅکی چې ارزان کړمه

ستا سره چې سپوږمۍ هم ستا نهٔ زغمي
یاره دې زړګي مې نن حېران کړمه

ځان راته بې شکه جنتي ښکاري
ځکه، چې زهٔ قدر دَ انسان کړمه

دې وحشي ماحول رانه وحشیان کړه ټول
زهٔ عندلیبؔ کوم سرې جانان کړمه

★★★★

Pakhto.Net

○

ساندې چې سندرې شوې
اوس قيصې ژورې شوې

درده مشغوليږه پرې
څريکې دې ملګرې شوې

زړۀ بۀ چا له خۀ ورشی
زړونه شنې کمرې شوې

خوار قدمه خاورې شې
کربښې زوروري شوې

توئ شولې دَ بل په غم
اوښکې ملغلرې شوې

وينم پرې ظلمونه ډېر
سترګې مې خود سرې شوې



Pukhto.Net

کرم پرې دَ خیال ګُلان
شارې مې دوترې شوې

یاره چې خبره وه
جورې ترې خبرې شوې

شور دَ عندلیبؔ بَه دے
ویښې پرې لښکرې شوې

★★★★

Pukhto.Net

نور څۀ درنه نۀ غواړي، غم سوے بدن

دوه درنـه پوړۍ غواړي، يو درنه کفن

درکړم دَ ازغـن عمر، څه حساب کتاب

اوځـمـه سحر وختي، راشم ماسخوتن

شيخ تـه مې دا اووئيل، زۀ يمه نهر

زر ځې راتـه اوکـړلـه لافـه دَ عـدن

دا ثواب مې لـړ نـۀ دے، فـکر دے پکار

زۀ په تـا شـکـي نـۀ يم، تۀ په ما شکمن

ځکـه عـنـدليبؔ يـمـه، سوے لوغړن

کـړي راتـه سبـا سبـا، سبزي راله نن

★★★★



Pukhto.Net

یو رښا دَ الفت
بل تیَری دَ نفرت

دعوه ګیر دَ تهذیب
ټېکدار دَ وحشت

خوښووم ګناګار
رد کووم توبه ېت

سم اخته دی اخته
په لذت دَ ذلت

ښه دَ لوږې نه مړ
نۀ حلوا دَ منت

څوك لمبه په دیدار
څوك قربان په شهوت

Pukhto.Net

په خیال نهٔ بدلووم
دَ خـاوریـنو لـذت

یـا دَ سـترګو کـاسـې
یـا دَ شـونډو شـربـت

ظـاهـر بیـن څهٔ خبر
دَ جـذبـو پـه عـظمـت

عـنـدلیبؔـه چې څښې
نـو بیـا مه غواړه ست

★★★★

Pukhto.Net

چې بې داغه دَ داغدارو سره لړې
په زړګي مې راخورې شي هله لړې

چې زمرے دَ ګیدړانو سره تړې
ستا دَ مینې لېونے به ولې تړې

مئینان چې دې دَ خپلې خوا نه شړې
دا کوڅې دې، ځکه ښکارې شړې شړې

چې مانړې دَ اتفاق شوه دړې وړې
خوشحالي دَ پُښتنو نه کړه وړې

یار چې سترګې کړې په نۀ خبره خړې
راولي دَ عندلیب په زړګي خړې

★★★★

ځله خفه ځله پرکاله درشم
چې مې په زړۀ کې ځې څه تاله درشم

نن به مې اوژاړم چې توۀ ئې کړمه
دَ سبا غم له به سبا له درشم

نور به لا څه وی خو بس دغه به وی
چې دَ سزا نه به سزا له درشم

ستا په کمال باندې به داغ اولګی
زۀ که سره دَ خپل زواله درشم

مورې! اللّه دې عُمر نور هم ډېر که
چرته ماښام کې خو دُعا له درشم

دلته خُدایان په زمکه ډېر شُوربه
دوئ نه مې خلاص کړه چې دې خوا له درشم

دَ مرګ سیلۍ بیا عندلیّب ته اووې
زۀ به دې هم چرته په ژاله درشم

★★★★

چې وهلــه ئې دَ غــرۀ ســره ډغــره
دَ فـرهـاد مـجبوري لـويـه وه لـه غـره

دا په سُور رخسار ئې تور خالونه ښکاري
کۀ په هاړ چا راسنډلي ده ګورګوره

زۀ په غرونو دَ بارودو کې ورك بازيم
تۀ په څانګه دَ خونه سپينه کونتره

چې ډالـۍ دَ ديدن نۀ لرې کم بختـه
دَ مـاښـام پـه تيَرو اوخ شي مـازيګره

دَ ړنـدې مېرې پـوکـے نـۀ شي دلبره
اوس پـه مـا لـمبې اغوښتې دی دَ بره

اے دَ واورې دَ کشتۍ مـانکيـه وايـه
دا دريـاب بـه دې تـرڅو زغمي خود سره

بـورا بيـا دَ ګُل دَ پـاسـه نشتـه پروت دے
عـنـدليبؔ چـرتـه وئيلې ده سـنـدره

★★★★

عالمه چې پښتون لالې دَ ټنګه وتے دے
دَ زړهٔ درياب مې ځکه نن دَ ننګه وتے دے

هر چا پرې خپل رنګونه ور تپلی برګ چوپړ دے
دَ قام بچے مې داسې دَ خپل رنګه وتے دے

لالچ ئې په ذهنونو او کورونو کې دېره شو
خلوص ئې دَ کوځو نه ډېر بدرنګه وتے دے

دَ بغض او نفرت بندونه ورځ په ورځ لوړېږي
درياب دَ مينې ځکه دَ غورځنګه وتے دے

راځه چې چرته بل وطن ته لاړ شو عندليبه
دا کلے اوس دَ سرو سترګو له جنګه وتے دے

★★★★



Pukhto.Net

شنې چپې دَ پنجکوړې، سرۀ کشتۍ زما دَ خيال
يو سکيڼے ماښام، بل دَ ياد نرے شمال

دَ ايلو دَ سېل غوپې، دَ رباب او منګې غرب
يو دَ سيند دَ غاړې درب، بل دَ چڅچو جوړ چوپال

کووم قتل دَ توبې، دَ وصال په مازيګر
رانه پاتې شي جلال، په جلوو کې جمال

دا په ګټ کې دَ وربځ، ستَر کړے دے سپوږمۍ
کۀ دَ چا په سپين جبين، غوړېدلے دے تور شال

زما فکر لېونے، دے اخته په غټ جنجال
چې تاوېږي له دنيا، نو اودرېږي په يو خال

چې ډېرېږي هره ورځ، په يو دين کې فريقې
اوس به خنګه کړي سرے، پېژندنه دَ دجال

درته ښايم عندليبؔ، دا نُسخه ده دَ کمال
چې شي نفس مطمئن، فکر نۀ وي دَ زوال

★★★★

داسې تېرېږي اشنا، په خاموشۍ وختونه
يا مې ساګانې شمارم، يا مې د زړهٔ ټوپونه

نهٔ تورانۍ په بڼ کې، نهٔ بوراګان په ګُلو
نهٔ په شپېلونو شته دے، دَ لولکو سپلونه

نهٔ له بارانه خبر، نهٔ دَ شبنم دَ څاڅکو
خُدائے خبر څنګه پائي، په وچ ګرنګ ګُلونه

نهٔ مې وفا اوليده، نهٔ ورورولي په چا کې
دَ هر چا سل خبرې، دَ هر چا شل مخونه

دا مې جوړ عقل شعور، دَ سر نه کډه کړې
ځکه په سر اخلمه، همېش پردي غمونه

غرې په خله پاتې شو، ارمان په زړهٔ دننه
دروغ دروغ اوخاتهٔ، دَ عندليب خوبونه

★★★★

وخت رانه تروړلی دَ تندی ګُلان
ځکه جوړوومه په تندی ګُلان

ما ساده ئې خښولـه یو ګُل کتو
خلق ورته لارو کې شیندی ګُلان

یاره دَ وحشت سیلۍ ظالمه ده
چرته کې په بوټو کې پرېږدی ګُلان

وچې وچې پاڼې به راټولې کړم
قتل به زهٔ نهٔ کړمه ژوندی ګُلان

یا دلته سپرلے راپېښه نهٔ کوی
یا دلته قات شوی دَ رېدی ګُلان

ځکه شکلوومه دَ ازغو څوکې
دوئ راله ساتلی دی خوندی ګُلان

یوئې عندلیبؔ په نظر قتل کړو
بل ئې لا په قبر باندې ږدی ګُلان

★★★★



Pukhto.Net

اظهار مې دَ حيا دَ غره نه شا ته ايښې دے
اِقرار مې دَ مئينو سترګو خوا ته ايښې دے

په سر کې کۀ مې مينه دَ پښتو او پښتنو ده
دا زړۀ مې دَ يثرب يخې هوا ته ايښې دے

زلمي چې دَ رنګينو لوپټو سوداګران شول
دا مونږه پکې خيرې ګرېوان چا ته ايښې دے

زۀ پېژنم ددې دور دا ډېر جمهور پرست
چې پُل ئې په هر دور مارشلا ته ايښې دے

اُلفت دې عندليبّه په رګونو کې پټ کړے
نفرت دې دَ شيخانو مشغولا ته ايښې دے

★★★★

ډېرې خاموشۍ ته مې ژړلي خاموشۍ
شونډې خبرلوڅې مې خوړلې خاموشۍ

خلق کۀ لـه کـلـي تښتولي خاموشۍ
مونږه خو دَ سرو سره تللي خاموشۍ

وينې مې په دې باندې زغملې خاموشۍ
مينې مې په ذهن کې کرلې خاموشۍ

مونږه خو چې کله هم چيړلې خاموشۍ
نوې نوې لارې راښودلې خاموشۍ

تا ورته په غوږ کې څۀ وئيلي خاموشۍ
نن خو زۀ حېران کړمه دَ ښکلې خاموشۍ

زړۀ نه کۀ مې سل ځله شړلې خاموشۍ
وخت راته په مخ باندې تپلې خاموشۍ

نور خلق چې تول په کاڼو ولي خاموشۍ
ناستې عندليبؔ ته دې په ولې خاموشۍ

★★★★



Pukhto.Net

ستړي شوه په غرۀ دَ خُمار راغلله
زړۀ ته چې دَ سترګو په لار راغلله

بیا مې په ارمان کې ساه پیدا شوله
بیا مې دَ ارمان په مزار راغلله

نن ورته شائست اورونه اوکړل
پیغله دَ وړسترګو په ښار راغلله

یا دَ چا په زړۀ باندې ازمېښت کوی
یا دَ چا له قصده په جار راغلله

هوش چې عندلیبؔ په غم اخته کړمه
خپله بېخودی مې پکار راغلله

★★★★

Pukhto.Net

○

دلته کې دَ جبر موسمونه دي
فکر کې مې څکه تور تمونه دي

بيا به دَ سرونو بازار اولګي
خلقو سنبال کړي بېر سرونه دي

چرته پرې دَ امن سحر رانغے
يا ره زمونږ ښه سپېرهٔ کورونه دي

يو ئې دَ مرګي تپه په خُله کې ده
بل ئې ودان کړي محلونه دي

څنګه به قاتل دَ سر معلوم کړمه
دلته په مخونو نقابونو دي

څکه مې دَ ژالې فکر واخستم
بيا مې په نظر کې تندرونه دي

دا چې دَ بارودو لمبو اوسېزل
دا دَ عندليبؔ دَ کلي غرونه دي

★★★★

کـهٔ بـانېٔ دَ سـترګـو کـم نهٔ دی لـه تُورو
دَ رُخسـار خــولې ئې ښاځکی دَ انګـورو

دَ خــاکـی فـطـرت خـاونـد یـمـه واعـظـه
مـا تـه دومـره صـفـت مـه کـوه دَ حـورو

کـهٔ نشې دې پرې پیرزو کړې کهٔ زخمونه
زړونه دواړو کې خوشحال وی دَ مجبورو

زهٔ ئې دغـه مـعـجـزې تـه حیـرانیـږم
پـه لیـدو ئې عـلاج اوشـی دَ رنځـورو

عـنـدلیبؔ چې ئې په خوئې باندې ملنګ کړو
دا احســان دے دَ هـغـو سترګـو مـغـرورو

★★★★

کـۀ رېدے دے کـۀ غانټول دے
دَ زړۀ کـور مې پرېې راټول دے

جنتي خاوره کې اوسم
هـر منـظر دَ هيـرو تول دے

مـــا ئې مخ ته دی کتلی
ځـکـه وايم جهـان ګـول دے

هـر زلـمے لکـه يـوسفؑ دے
هر سپين ږيرے مې بهلول دے

دَ مـوسـم په سپرلی څۀ کړم
چې سپرلے سپرلے ماحول دے

کـړو خـوکې دَ ګُلـو داسې
ترې چاپېر دَ غنـو شپول دے

ميـنـه غـواړی عـنـدليـبـه
کـۀ جـولۍ ده کـۀ کچکول دے

★★★★



Pukhto.Net

زه ئې په ژوندوني مړ شمېرلے یم
ځکه دَ مقتل نه روغ راغلے یم

دنګ ئې خو اسمانه دومره دنګ نهٔ ئې
زه دې دَ سینې دپاسه تلے یم

ما کهٔ په زړګوټي کې ځائے کړے دے
زه ئې هم تر عرشه رسولے یم

ما ته فرښتو تندی ایښودی وو
هسې په ښکاره دَ خاورو ځلے یم

دا خو دَ غنم دَ دانې شوق وو
اوس لکه غنم په زړهٔ چاودلے یم

ښه ګه عندلیبؔ ناشکری اوکړمه
کله ئې له دره تش شړلے یم

★★★★



Pukhto.Net

مُنکر نۀ یم څو څو ځله توبه اوکړم
یوه ماته کرمه بله توبه اوکړم

زۀ دَ سترګو دَ ږندونو نه راوځم
کۀ دَ زلفو دَ ځنګله توبه اوکړم

تۀ چې مینې دَ دُنیا ته توبه نۀ کړې
زۀ دَ عِشق دَ کاره څله توبه اوکړم

تۀ ترې حُسن او جمال واخلې خالقه!
زۀ به هُم چرته دَ ګُله توبه اوکړم

دا توبه مې دَ واعظ په خوښه اوکړه
ممکن نۀ ده چې پخپله توبه اوکړم

کۀ دې یاد زما دَ سره توبه اوکړه
عندلیبؔ به درنه هله توبه اوکړم

★★★★

ډېر سرې مې په وېنا کله پوهېږي
رسېدلي مې خبرې ته رسېږي

خوبه زر ځل که په اوښکو غُسل درکړم
دَ تنندي ماتمي خال دې نهٔ ورانېږي

دُنیا دارو لره ښوله دُنیا لره
ورې سترګې بې له خاورو نهٔ مړېږي

پتنګان ځکه سېزي ورته سرونه
چې دَ شمعې په سر هم شمع بلېږي

زهٔ ئې ځکه په تقویٰ باندې شکي یم
دَ مخلوق حقونه خوري اؤ نهٔ یرېږي

چرته لارې دَ اسمان چرته بوراق
عندلیبّه بې له عشقه کله کېږي

★★★★

سپینه اوښکه تور رانجه په سُور رُخسار
داسې اوشو تیارې زما دَ دار

زړهٔ زړګوټی له راوړې وو قرار
سترګو سترګو له راوړې وو خُمار

دغه خاورې شړې ځکه په سر نولم
چې ئې خال بخری نولی په رهګزار

که مې زړهٔ که مې نظر دے که مې فکر
پکې پروت دے دَ یادونو سُور انګار

څو بانهٔ دی څو تارونه دَ زُلفانو
چلوومه پرې دَ عُمر کاروبار

عندلیبؔ راته نغمه کې داسې اووې
عاشقانو له څو دار او یا دیدار

★★★★

ستائی راته څهٔ سحر، ستائی راته څهٔ ماښام

زهٔ چې تـرې بېخوده شم، ستایمه هغهٔ ماښام

دا غـلام غـلام سـحـر، دا ګـاڼهٔ ګـاڼهٔ مـاښـام

دا سپېره سپېره غـرمه، دا پیکهٔ پیکهٔ ماښام

ستائی راته خله څوک، ښائی راته خله څوک

دا پـردے پـردے سـحـر، دا لـمبه لمبه مـاښـام

یـاره زنـدګـی کې مې ، دغـه دوه لیدلی دی

یو ازغی ازغـی سـحـر، بل لشه لشه ماښام

سترے شی نظر زما، دغـه منظرونو کې

سترے عـنـدلیبٔ شـمـه، اوکـرمـه نشه ماښام

★★★★

غورو ته سپور نهٔ رسی
سپینو ته تور نهٔ رسی

د برې بې وسه کړمه
په زړهٔ مې زور نهٔ رسی

خلقو دنیا خپله کړه
زمونږه کور نهٔ رسی

په چا پیرزو کړی وصال
دَ چا پیغور نهٔ رسی

تپ دَ جذبې دومره دے
چې ورته اور نهٔ رسی

نن دَ منصف غوږو ته
غږ دَ کمزور نهٔ رسی

جامه ئې سپینه ده خو
زړهٔ ته ئې سکور نهٔ رسی

Pukhto.Net

شېخ دَ ژوندون دَ نغمې
په تېنګ تېکور نهٔ رسي

خېر کهٔ ګلونه شو ډېر
هغهٔ ته نور نهٔ رسي

دغه اقرار به کووم
نغدو ته پور نهٔ رسي

چې په زړګو کې اوسي
هغه تړکور نهٔ رسي

یاره منزل ته دَ عِشُق
چرته شمکور نهٔ رسي

عندلیبؔ ژاړي ځکه
څوک يې په شور نهٔ رسي

★★★★

يـو دې ټُوره زنـګـي

بـل دې خـوئ دَ جنګي

پـه عـمل کې مـړز

پـه جـوشـه قـولـنګی

زهٔ بـه مـيـنـه شيـندم

تـهٔ کـوه بـزرګـی

زهٔ پـه ژونـد ايمـاندار

تـهٔ تبـاه کـړې مرګی

ستا جمود دَ خـانقـاه

زمـا تپ دَ زړګـی

زهٔ بـه ټول کـړم ګُلان

تـهٔ سـاتـه ايـنځرګی

څـهٔ شُـغـلې دَ جنون

څـهٔ دَ عِشـق تـاروزګی



PukhtoNet

څه بُتان د خواهش
څه بُتان د لرګي

ما چې وران کړو ګودر
هغې مات کړل منګي

زۀ لګړه په خندا
ستا په خُله کې زبېرګي

تۀ ژوندے په ګُمان
ما حاصل کړو پېښګي

عندليبؔ دے بادشاه
چې کوي ملنګي

★★★★

Pukhto.Net

○

دَ خپـل زړهٔ دَ مشغولا نـه ډېر يرېږم
چې يواځـې شم لـه ځانه ډېر يرېږم

مـا وې ګل بـه لـه خزانه ډېر يرېږي
ګـل وئيـل زهٔ دَ بـاغوانه ډېر يرېږم

ښـاپېـرک يم دَ تيـرو سـره بلد يم
دَ رنـا او دَ سـبـا نـه ډېر يرېږم

دَ ظالـم ستـرګـو لـه چونګ خاورې لرمه
دَ تـور سـرو دَ ژړا نـه ډېر يرېږم

دَ دُنيـا نـه مې دا سترګـه نهٔ سوزېږي
دَ ضميـر دَ واوېلا نـه ډېر يرېږم

ساقی ست دَ جام کوه چې هېر مې نهٔ کړې
عـندليبّ ددې سـزا نـه ډېر يرېږم

★★★★



Pukhto.Net

داسې علاج مې ددې خپل سوی نظر کوومه
دَ عِشق په دشته دَ جنون دَ ګُلو کر کوومه

چې نهٔ پټېږی نهٔ کمېږی نهٔ ورکېږی چرته
خپله خانی به مې دَ مینې په دوتر کوومه

اول خه غم به ددې خپل اودهٔ لښکر کوومه
بیا به دَ قام په هر دُښمن پسې لښکر کوومه

یو ځل به بیامومم منزل دَ خپلواکۍ له خېره
دغه ارمان له څېنه سترګه هر سحر کوومه

چې رنګبدلو درمندونو کې اتڼی اوشی
زهٔ عندلیبؔ به هم په هغې ورځ اختر کوومه

★★★★



Pakhto.Net

دَ ژوند قيصې مې دَ وئيلو نهٔ دی
دغه سکروټې دَ چيړلو نهٔ دی

يا خو مې ستړګې څوک لوستلے نهٔ شی
يا مې دا ستړګې دَ لوستلو نهٔ دی

هسې نهٔ اوکړی زخمونه چاپېر
څنې زخمونه دَ سودلو نهٔ دی

مه کړه چې هر ارمان مې اوتړقوی
دَ زړهٔ لمبې دَ سړېدلو نهٔ دی

دَ څنې څنې ګُل نصيب شی راويښ
ټول په وَربل کې دَ ټومبلو نهٔ دی

دَ ژوندون دشتې ستړګې اوغړوه
څهٔ لاروی دَ هېرولو نهٔ دی



Pukhto.Net

موږ ملنګانو هم یو څو کتلی
دَ خلقو زړونه ټول دَ ښکلو نهٔ دی

زړهٔ کې مې دومره ډېر غمونه اوسی
لکه چې ستوری دَ شمارلو نهٔ دی

دَ خیال مارغهٔ مې ترې بهر نهٔ اوځی
دا سردرې دَ هېرولو نهٔ دی

په پښتنو دَ بې ننګۍ تورونه
اے عندلیبه دَ منلو نهٔ دی

★★★★

Pukhto.Net

نم چې غرلـه غـاره ورکړی مازیګر کـې
تاؤ دَ هجـر مـې اوتر کړی مازيګـر کـې

مـحـرَم بـه دې اختر کړی مازیـګـر کـې
ګُل چې ګل په لاس کـې درکړی مازيګر کـې

تـوله ورځ دنـيا تـه شا کـړم قـلـنـدر يم
ستا ديدن مې سـکـنـدر کړی مـازيګر کـې

دَ خيـال سيمـه مـې همـه ګُلاب ګُلاب شي
چې هغـه دَ ښکُلا کر کړی مازيګر کـې

په رانجو چې لـکـې سترګو لـره اوکړې
عشقـان بـه پرې کسکـر کړی مـازيګر کـې

دَ مـحـراب نـه بـه ګـودر تـه مـخـه اوکړي
کـهٔ زاهد څوك راخبر کړی مـازيـګـر کـې

عـنـدليبّـه لـيـونيـه شُـکـر اوکـړه
چې جـانـان درتـه نظر کړی مـازيګر کـې

★★★★



Pakhto.Net

چـا تـه دَ کـردار دَ مړینې وایـمـه؟
چـا تـه دَ خـدمـت دَ وینې وایـمـه؟

داسې راتـه مـه وایـه چې اووایـه
بیـا به ګورے سپینې سپینې وایمه

ژاړمـه په دې بـاندې چې نۀ ژاړی
زۀ دَ درد قیـصـې غـمـګینې وایـمـه

تـا چې مې په سر کې نفرت اوکړو
زۀ بـه درتـه ځنـګ دَ مینې وایـمـه

تـا چې هم دَ زړۀ له کوره اوویستم
چـا تـه بـه مې حال شېرینې وایمه

غـوږ دَ عـنـدلیب کلام تـه اونیسـه
سـتـغـې سپـورې هم رنګینې وایمه

★★★★



Pukhto.Net

څـه نـوې نـه ده داسـې تل کېږي
پـه هـر مـئين پـورې خـنـدل کېږي

څۀ چل خـو دے چې دا څۀ چل نۀ کېږي
څـه چل چې اوشي نـو څـه چل کېږي

څنگـه بـه اوکړمـه خـوږې خبرې
چې هـر اتل تـه مې کـنځل کېږي

جرم کـېـږي شي تدبير دلته کښې
دلتـه کـارونـه پـه توکل کېږي

دې د وږسترگـو ښـاريـه کې گـُلې!
پـه سترگـو سترگو کې جوئيل کېږي

دَ گـېډې يـاره راځـه موږ بـه دې کړم
زمونږ پـه درگـه کې شوتل کېږي

زړۀ پټ پـه غـوږ کې عندليب تـه اووې
مينـه دَ مينـې پـه بـدل کـېږي

★★★★

کچ مې کړه نو کچ نۀ يم
مړ مې کړه کۀ سچ نۀ يم

نم لړمه سترګو کې
وچ يمه خو وچ نۀ يم

سترګې چې دې تورې کړې
ياره اوس دَ بچ نۀ يم

مړ يمه په عِشق باندې
بل په کوم لالچ نۀ يم

ښکار نۀ يمه ښکار کووم
باز يمه زيړکوَچ نۀ يم

هر ځائې ځکه نۀ کووم
سپے نۀ يمه مچ نۀ يم

خوار شوم عندليبؔ داسې
اوس ببخې دَ رچ نۀ يم

★★★★



Pukhto.Net

بې شمېره ارمانونو له بې شمېره قاتلان
اوسېږي مې په کلې کې چاپېره قاتلان

حاکم چې ئې پخپله له وحشته ګرځي پټ
دَ چا نه به اوس دلته کوي وېره قاتلان

په هغه ورځ به اوکړي بيا قاضي زما تپوس
کړي سخته چې دَ مرګ رابانديې تېره قاتلان

شريفه شرافت هلته وي لويه ناداني
په کوم ځائې کې چې ګرځي ښه برسېره قاتلان

دَ سر چې پکې نشته دے څۀ قدر او قيمت
دې خاورې زېږولي دي سر تېره قاتلان

ژوندے دے عندليبه کاغذونو کې خوندي
خبر دي دَ قانون دَ زوَر او زېره قاتلان

★★★★

○

غم ئې په سر باندې دهقان اخلي
ټولې دانې دَ کلي خان اخلي

هُم پکې ډوب يمه هُم تږے يمه
دَ عِشق درياب مې امتحان اخلي

خال دې په سپينه زنه اولګوى
څه له مې قتل له سامان اخلي

ځوانى مې څکه نن خځله کړله
دَ شکُلا فصل له ډېران اخلي

اوس چې توپے دَ تېلې نۀ خرڅېږى
اوس به په څۀ باندې پېزوان اخلي



Pukhto.Net

ورومبے دې ځان دَ چا نه اوګټي نو
بيا دې په تُوره هندوستان اخلي

يا دے چالاکه دے يا زهٔ ورے يم
په څو ډالرو مې ايمان اخلي

زهٔ عندليبؔ دَ لوړې غم ژاړمه
دے راله ستورې دَ اسمان اخلي

★★★★

Pukhto.Net

دا چې هر وخت دَ خيالونو پرې غرېږم
ظالمان به پرې يو ځل دَ خبره ترېږم

خوږ اشنا چې پرې يو ځل ايښے قدم وو
زۀ تر اوسه په هغو شړو کې رغړېږم

ياره تۀ خو به په سپورو تورو لاړ شې
ستا يادونه به له ځانه څنګه شړم

دَ چا خپل مخ مې تر اوسه څرګند نۀ کړو
زۀ نادان دَ نقابونو غوټې سپړم

زما وينه کې ګرمي څکه پېدا شوه
چې دَ اوښکو نه ګوټونه کووم ترېږم

دا مقتل دَ بې وسى کۀ مې رنګ نۀ کړو
عندليب به ئې په خپلو وينو لړم

★★★★



Pukhto.Net

حالونه راته اووي زماني دَ زماني
ما هسي لټولي استاني دَ زماني

دَ فکر رڼايي راته ښکاره کړو حقيقت
خزلي راته ښکاري خزاني دَ زماني

دَ ځان دَ غم دَ شور دَ زور مې اوکړه اندازه
په غوړومي راښغلي تراني دَ زماني

پکې وو دَ لالچ دَ ګندګۍ ورم سپېره
چې ما رالټولي ياراني دَ زماني

دَ سترګو دَ ليدلو په طاقت شمه پښېمان
په مخ باندې چې اووينم کاني دَ زماني

Pukhto.Net

چې هاغه دَ دانې خواهش راغستے يم په سر
تر اوسه مې پوره نۀ کړې دانې دَ زمانې

چې غشي دَ اخلاص ورسره ختم شُو نو اوس
خطا خطا به لګي نشانې دَ زمانې

هرڅوک ئې پخې پخې ودانې کړې بيا هم
فاني دي عندليبه نشانې دَ زمانې

★★★★

Pukhto.Net

○

چې لاړې غلې غلې
د زړهٔ مې نه وتلې

وینې د زړهٔ مې خپلې
په لپو لپو څښلې

ستا د غم پېټې وړمه
ولې مې ولې ولې

را نه احساس لالیه
په کومه تله تلې

زهٔ به قیصه کوومه
تهٔ وایه بلې بلې

زما شپېلۍ کېنه ده
تهٔ په تپه کې نښلې

Pukhto.Net

ځار شه دَ خپلې خاورې
کۀ په ازغو ښملې

خُدايه ودانې لرې
دَ پښتنو کوډلې

زړونو ته چرته رسي
دا اوسنۍ نيتلې

زمانه هېرې نۀ دي
دَ خپل بابا متلې

نن دې راځي يادونه
جانانه ډلې ډلې

دَ عندليبؔ په خُله کې
خبرې ښکلې ښکلې

★★★★

Pukhto.Net

وصال راته څولې کې ډېر ګلونه واړول
هجران راته په لارو کې اورونه واړول

جانان چې نن راولېږو دَ نهٔ راتلو پېغام
دې نمر په پرېوتو کې څو ګلونه واړول

دَ خپل زړهٔ کورکے مې ځکه نهٔ ژاړمه اوس
دَ سترګو په بڼو مې ډېر برجونه واړول

دې زړهٔ کې دې لالچ او هوس هغسې ډېره
زاهده دَ تندی نه دې خوَرګونه واړول

دَ ښکلو دَ راتلو لارې ښارل نهٔ دی اسان
زمونږ ئې په ښتونو کې رګونه واړول

سپرلیه ستا راتګ ته عندلیبؔ نهٔ یم محتاج
یادونو مې په سترګو کې رنګونه واړول

★★★★

دغه سترګې تورې وې، دغه سترګې سرې شولې
دا سترګې کمرې وې ، دا سترګې جبې شولې

په ساقي محفل ته نن ، څوك داسې راغلے دے؟
شونډې مې تروې نهٔ دی، سترګې مې خوږې شولې

قدر دَ نغمې اوشو، قتل دَ توبې اوشو
سترګو کې دې ځائ شومه سترګې مې مړې شولې

نهٔ مومی یو دَم قرار، بې له هغو سترګو نه
اوس مې په رښتیا سره، سترګې پُښتنې شولې

شوې دَ عندلیبؔ خوښې ، هغه میلمنې سترګې
اوس مې دَ زړګی کره ، سترګې کوربنې شولې

★★★★



Pukhto.Net

دا مشغله مې له سازشه ښه ده
دا مشغله دې له ورزشه ښه ده

چرته چې دام وي پکې تا وینمه
غنمه ستا نه خو وربشه ښه ده

دنیا دې ډکه ده جو ډکه ښه ده
لمن مې تشه ده جو تشه ښه ده

جام وي جانان وي دَ چینې غاړه وي
زما دېوالي دَ هندوکشه ښه ده

چې دَ کردار په کالو نهٔ وي ښکلې
دَ داسې سپینې نه حبشه ښه ده

چې کړې دَ حق په لاره تګ لالیه
جذبه دې دغسې سرکشه ښه ده

فخر په عِلم عندلیبه ښه دے
په دولت هسې خرشه پرشه ښه ده

★★★★

○

راپکې څو دَ کار سرې نشته دے
نوره په مونږ کې هیڅ کمی نشته دے

په خودکشۍ کې څکه پاتې راغلم
دلته کې زهر هم اصلي نشته دے

زمونږه تندې څکه نهٔ ماتیږی
یاره زمونږ سره تندی نشته دے

په دې وطن کې به رښتیا نهٔ وائې
نوره په هیڅ هم پابندی نشته دے

تهٔ ورته خنګه پاکه خاوره وائې
چې پاك سړے پکې ببخی نشته دے

دَ حقیقت په اوربدو داسې شو
ماوې کهٔ دهٔ پورې وخکی نشته دے

Pukhto.Net

داسې نختر زما په خاوره نشته
چې ئې سينه کې مړدکۍ نشته دے

دۀ راته وې راشه جنت اوګته
ما وې جامې مې دَ بچې نشته دے

دا عندليبٓ سپينې خبرې کوی
ځکه ئې خيرې په زړګی نشته دے

★★★★

Pukhto.Net

يو مُنکر مې پېدا نهٔ کړلو په لټه
چا په جار مينه کوله چا په پټه

دَ سپوږمۍ نه ستورے څکه خوښوومه
چې سپوږمۍ کله وږه شي کله غټه

سُود او زيان دَ دُنيا دارو مشغله ده
عاشقان نهٔ په تاوان وي نهٔ په ګټه

چې دَ سوَلو له هُنره خبر نهٔ ئې
چې پېښې دَ پتنګ اونهٔ کړې ګونګټه

هغه ونه به ترخو بارونه اوکړي
چې چينجي ئې لګېدلي وي په سټه

عندليبٔ وائي په تُوره مې خټ غوځ کړه
خو چې اونهٔ کړې اشنا خبره رټه

★★★★

يو جذبه او بل شباب
بل دَ ميني لوئ درياب

دا ازغی ازغی ژوندون
دا وعده ګُلاب ګُلاب

نغمه كر په تشو ګېډو
يو شاعر او بل رباب

هره لاره ناليدلې
هر منزل سراب سراب

دَ لمبه لمبه وختونو
څۀ حساب اؤ څۀ كتاب

Pukhto.Net

حال دَ زړهٔ مې ځکه اووېِ
لـه يـارانو څـهٔ حِجـاب

ځئ چې راولـو ملګرو
پـه وطـن کـې انـقلاب

عندليبؔ چې ګُناه اوکړه
قــدر ډېـر شـو دَ ثواب

★★★★

Pukhto.Net

دا دَ زړهٔ دَ درد قیصه ، یاره څکه نهٔ کړمه
مینه پُښتنه به مې ، چا ته سپکه نهٔ کړمه

دومره بې وفا نهٔ یم، خورمه ترې هم ښمه ترې
څکه دَ اسمان صفت، زهٔ په زمکه نهٔ کړمه

څوك ئې په تهذیب تلی، څوك ئې دَ دولت په تول
یاره چې انسان وی نو، زهٔ ترې کرکه نهٔ کړمه

تهٔ زما په زړهٔ کې ئې ، ځان رانه ورك شوے دے
خُدایه په خُدائۍ کې دې، شك بې شکه نهٔ کړمه

تهٔ دَ حورو ذکر کړه، زهٔ به دَ خاؤرین حُسن
مینه دَ خوبانو به ، ور په ورکه نهٔ کړمه

یو دَ خُودۍ پېټے دے، بل دَ عندلیّب اوګې
مړ له تندې ښه یمه، قرض څکه نهٔ کړمه

★★★★

اکثر په عاشقۍ کې داسې کېږي په ګرېوان
لړۍ دَ ترمو اوښکو راوربېږي په ګرېوان

دَ زړهٔ زخم ظالم شي دَ سينې زخم مظلوم
دَ سترګو نه چې مالګې راوربېږي په ګرېوان

جانانه دَ ازغو په څوکو تلې دے په دې لار
دَ مينې دې توبه کړي چې ترسېږي په ګرېوان

لا تنده ئې سړه نهٔ شوه په دې يمه حېران
کاسې دَ سترګو هره ورځ تشېږي په ګرېوان

ريښې چې مې راټولې کړې په غنو دَ هجران
ګلونه دَ وصال به زرغونېږي په ګرېوان

اے ياره کهٔ دَ زړهٔ په سترګو وينې عندليبؔ
رنګونه ئې له ورايه نه ځلېږي په ګرېوان

★★★★



Pukhto.Net

○

په مزاج لکه اوبۀ دے
دَ چا نقش پرې پاتې نۀ دے

ما وې کاڼے دے دَ سینډ
دۀ وې چپ شه دا مې زړۀ دے

دا چې کور ئې خلق ګڼی
خُدائیګو کور ددې نه ښۀ دے

په دنیا څه له بد وائی
چې دُنیا ورسره شتۀ دے

ښه تقریر دې راته اوکړی
نور لالا غریب دَ څۀ دے

څوک اظهار کړی څوک ئې نۀ کړی
ګڼې هر سړے خفه دے



Pukhto.Net

یادول په شمار ړیا ده
ما ستائیلے ورځ او شپه دے

بې لالچه بندګی کړم
زما دا ثواب پوره دے

هم ئې نن د ویرې مړ کړم
هم لا وائې په نیته دے

چې ئې څۀ ته طمعه نۀ یم
بیا په څۀ دومره غرۀ دے

راز دې راز پاتې شو ګله
عندلیبٔ هسې پره دے

★★★★



Pukhto.Net

○

چې پرېوتی په هر در یُو
نو پرېوتی له نظر یُو

یَو مزل دے بې منزله
په سفر وو په سفر یُو

بې وسی دی خاموشی دی
نۀ دَ شور یُو نۀ دَ شر یُو

یا مو پرېښې دی لښکرې
یا هېر شوی دَ لښکر یُو

په خاورین حُسن لګړه یُو
نۀ په اور یُو نۀ په نمر یُو

څوک له بامه پرېوتلی
څوک ښخ شوی په کُودر یُو

Pukhto.Net

په ایرو کې پټ پراته یُو
که برسېره شُو، سره زر یُو

چې هر خیز ملاوېږی شو
بختور یُو چې نهر یُو

که دَ لر یُو که دَ بر یُو
دَ نیستی نه کور و کَر یُو

چې دَ ځان دپاسه گرځو
عندلیب زوَرور یُو

★★★★

PukhtoNet

چې شینکي زما دَ غرونو پکې سوَزي
نوښکُلا دَ موسمونو پکې سوَزي

له ګوګل مې ځکه شنه لوخړه خېژي
چې فصلونه دَ خوبونو پکې سوَزي

په صحرا دَ زړهٔ مې داسې وچکالي شوه
قافلې دَ ارمانونو پکې سوَزي

دَ کُرسۍ دَ نشې دې عذاب ته ګوره
تقدُّس دَ جماتونو پکې سوَزي

پوهه دلته تباهي ده عندليبه
خاوندان دَ ښو فکرونو پکې سوَزي

★★★★



Pakhto.Net

○

دَ دواړو په ژړګی کښې اوسېدله مجبوري
ستا خپله مجبوري وه زما خپله مجبوري

زما به چې دَ شونډو په پاړونو کښې دېره وه
نو ستا په اننګو به ګډېدله مجبوري

حيا به دَ اظهار مخې ته جوړ کړلو دېوال
له شرمه پټه پټه لوئېدله مجبوري

که سل ځله مې ستونی کښې ساتله مجبوري
له سترګو به بې واره څڅېدله مجبوري

سينه دَ عندليبؔ لکه يو ځلے دَ ارمان
په سرځ لکه شمع بلېدله مجبوري

★★★★

خودې راته ښودلې، دَ خود سرو خوا ته ژوند
دَ زغم سره بلد کړم دَ سنګرو خوا ته ژوند

په زړهٔ کې مې بغېر له ماتمونو هېڅ څه نشته
هرڅو کهٔ تېرووم دَ سندرو خوا ته ژوند

طلب دَ مینې نهٔ لرې مطلب پسې رادرومې
مزه راله رانهٔ کړه دَ ملګرو خوا ته ژوند

دَ مینې دَ پېغام دَ اورېدو پکې څوک نشته
دلبره بې مزې دے دَ لښکرو خوا ته ژوند

دَ ښار دَ کوڅو څکه کړې بې تول صفتونه
دوئ چرته کې لیدلے دَ نخترو خوا ته ژوند

دا زهٔ په ماتمې رنګونو مړ یم عندلیبؔ یم
په ښاره کې مې خوش دے دَ ګورګورو خوا ته ژوند

★★★★

۞

څومره سپورې سپورې شوې
ستا خبرې نورې شوې

تنده دې خپل غم کوي
لپې مې نسکورې شوې

پرق د جبین نه زغمي
سترګې مې کمزورې شوې

زړه مې پکې ورک شولو
زلفې چې سرتورې شوې

دوه خولګې ئې راکړلې
درې مې ورته پورې شوې

تلې وه ګورګورو له
سرې شونډې ئې تورې شوې

مرګ له عندلیبه ځي
سترګې دې شمکورې شوې

★★★★

○

اور چې اور ته اوغورځوی دا خو هیڅ سزا نهٔ ده
خاوره ټینګیدلې هم دَ اور سره ناشنا نهٔ ده

شیخ له زړهٔ مجبوره دَ خواهش دوزخ ته اودانګل
بې له غټو حورو نه دَ خوار ګُزاره ګرانه ده

څه به دَ عمل په غرکې اوشي دَ تخلیق شینکے
دلته پرې دپاسه دَ فتوو رمه روانه ده

ځان ته چې په غوَر غوَر اوګورم تا اووینم
ستا پیړندګلو راته په دې باندې اسانه ده

پیره عندلیبؔ به دَ ګُناه په جُرم نهٔ نیسې
دغه کمزوری مې دَ ازله نه روښانه ده

★★★★



Pukhto.Net

منزلې چا موندلې په اټکل نۀ دي لالیه
دا ورځې دَ تکل دي دَ تَوَکل نۀ دي لالیه

په هره واقعه کې دَ عبرت بابونه پټ دي
دا ژوند خو تش خوړل او اغوستل نۀ دي لالیه

کړې وړې دي ډکې له ازغو دَ عمر لارې
يو چال به درنه غواړي دا دَ چل نۀ دي لالیه

دا خپل روږدي کم عقل مې لاسونه ورته تړي
غلیم سره څه نور خلق خو تړل نۀ دي لالیه

دا ځکه خو په هر میدان کې ژاړې عندلیبه
چې پت شبګره تُوره دې اوس مل نۀ دي لالیه

★★★★

○

نادان مې ستا دَ ياد دَمېلمستيا نه مُنکر نهٔ کړو
دې زړهٔ لـه کـهٔ مې سل ځـله قسم ورکړے دے

دَ اوښکو په شېبو باندې دَ زړهٔ لمبې سرې کړم
بـدن لـه مې لـه درده يک مـوسـم ورکړے دے

مـاليار به رانه څنګه دَ سپرلي حالونه پټ کړي
چې ګُل ئې په پټکي کې دَ شـرشم ورکړے دے

دښمنـه دے وطـن کې واک اختيار دَ بادارانـو
تصـويـر ئې پرې دَ پاسـه دَ حـرم ورکړے دے

چې صف کې دَ اغيـارو به ئې جوړ کړه ماتمونه
هغـهٔ دَ ورور پـه ويـنه کې خـرتـم ورکړے دے

کـهٔ شـونډې راله اوګنډي او ژبه راله پرېکړي
پيـغـام دَ خپـلـواکۍ زمـا قـلـم ورکړے دے

دَ مينې ګُل مې ځـکـه عـندليبَه په خندا دے
چې غُسل مـې دَ وِصل پـه شبنم ورکړے دے

★★★★

خبر که ګناهګار شمه
نور به ترې قلار شمه

پر برېده چې سم خوار شمه
هله به هوښيار شمه

لارې مې وهلې دی
اوس به څۀ په لار شمه

ګُلې راته اووئيل
ګُله ستا نه ځار شمه

تۀ چې راته نۀ ګورې
تيښتې ته تيار شمه

ځان به چرته بيامومم
تا ته به اوزګار شمه

Pukhto.Net

کار به درله اوګورم
چرته به دَ کار شمه

ته چې ساتې ځان شېخه !
زۀ ولې په دار شمه

ته ئې راته اوښايه
دلته دَ چا يار شمه

مړکۀ مې ضمير شولو
دلته به سردار شمه

ښکار پسې چې اوځمه
زۀ په خپله ښکار شمه

ياره بيم دَ مېنې ته
تړے چمچمار شمه

ګُل چې عندليبّ وينم
هلته په چغار شمه

★★★★

Pukhto.Net

هسې دوړېږمه غمې نۀ شومه
ثابت سړے شوم خو سړے نۀ شومه

زۀ ئې لـه سترګو ځکـه پرېوتمه
چې ئې په پښو کې پرېوتے نۀ شومه

جنون مې هسې په مئېرو ګرځوی
عشقـه تر اوسه لېونے نۀ شومه

په عاجزۍ دَ زمکې تل ته شوم کُوز
اسمان دَ کبر تـه ختے نۀ شومه

دَ مال په خپلو څه باور نشته دے
دَ زړۀ دَ خپلو نه پردے نۀ شومه

يار چې دَ مينې نه انکار اوکړلو
عندليبؔ پره پورې نختے نۀ شومه

★★★★



Pukhto.Net

دَ احساس او دَ الهام چې يارانه شي
خالي زړۀ وي دَ شعرونو خزانه شي

چې رنګونه پرې راغونډ شي پېمانه شي
نو رنګونه ترې راتوئ شي ترانه شي

په اورونو دَ دُنيا ئې پروا نۀ شي
چې لمبو سره بلد شي پروانه شي

دَ خبرو يَو اعزاز دې زما نۀ شي
په کردار چې مې قائله زمانه شي

خفګان څۀ دے کۀ دا مال و زر ستانۀ شي
آفتونه دې خوښ نۀ دي چې ستا نۀ شي

دَ دانې په مېنځ کې پټ دي خروارونه
له خرواره چې رابېله شي دانه شي

Pukhto.Net

حقیقت په حقیقت کې حقیقت وی
چې فرېب ورسره ګډ شی افسانه شي

خاموشي ته چې جمود وائی خطا دی
چغېدونکې مرغۍ زر زر نشانه شي

عندلیبه ملغلرې پکې توئ کړه
چې شعرونه دې په تول باندې درانه شي

★★★★

Pukhto.Net

○

هغه عمر چې تېرېږي بې وصاله
يو ساعت ئې راته کم نهٔ وي د کاله

نرۍ ملا به ئې پرې ماته کړې بې وخته
چرته درونډ منګے پرې خرڅ نهٔ کړې کُلاله

په خولو به ئې خالونه د مخ وران کړي
په راتلو دې څکه ژاړم پشکاله

په تخليق کې د خالق ننداره اوکړه
ښکلې مه ربټه د عقل نه کنګاله

يا مې سترګو دغه دوه سترګې ليدلې
يا دې سترګې خالی نهٔ دی له کماله

راته ستوری د اسمان ګوته په خُله دی
دومره چوَت مې ګرځوې د فِکر تاله



PukhtoNet

دَ ادم دَ رباب رنګ دې بختور کړو
درنه ځار شم دَ دُرخو دَ زني خاله

یاره دا دَ شیرینۍ دَ حُسن زور وو
چې فرهاد غر کنستلو په کوداله

چې دَ زړهٔ په غوږو خلق تول کاڼهٔ دي
وایه چا ته دې بیان کړم دَ زړهٔ حاله

عندلیب په مشرقي بادونو مړ یم
دَ مغرب دَ لوري مه راځه شماله

★★★★

Pukhto.Net

دومره خو نهٔ ئې چې زما نه زما کور واخلې
داسې مې مه سېزه چې تهٔ هم رانه اور واخلې

زړهٔ داسې څيز دے بې حکمته ئې ګټلے نهٔ شې
بلها څيزونه به د خلقو نه په زور واخلې

راشه د ژوند د تريخ سفر د تماشې ستړيه!
چې مې د مرګ د تماشې نه هم ښه سور واخلې

په دغه چم کې به خُمار بائيلې توبه اوباسه
نظره چرته به د تورو سترګو تور واخلې

د نظرئې د زور کمال به دې هله منمه
چې د جابر نه پرې حقونه د کمزور واخلې

چرته به بيا د عندليبؔ په نغمو اورسېږې
په سُور سپرلی کې چې د ګُل د خُلې پېغور واخلې

★★★★

زخمونه راته اوژاړي زړګي راته راياد شي
دَ ګُل نکر چې اوشي نو ازغي راته راياد شي

چې مرګ راته خوک ستائي نو په ژوند مې شه مئين کړي
چې ژوند راته خوک ستائي نو مرګي راته راياد شي

ددې نه به لا نوره دَ تدبير دُشمني څۀ وي
چې تنده مې راواخلي نو تندې راته راياد شي

دَ خپل مزاج قِصه به درته لنډه غوندې اوکړم
اوبۀ چې کله اووينم منګي راته راياد شي

سړي رانه هېر شوې وي خو څۀ اوکړم يارانو
سړي دومره سړۀ شي چې سړې راته راياد شي

انجام ئې دَ آغاز سره تړلے عندليبه
کفن ته چې مې پام شي نو ورنې راته راياد شي

★★★★

زما زړهٔ ته په روا ګنهګار وایه
خپل ښائست ته دَ ګناه ذمه وار وایه

ستا دَ حُسن ښار ودان ښه دے جانانه
زما سترګو ته تپه دَ خُمار وایه

زهٔ لا تول دَ وخت کوومه وزګار نهٔ یم
ورشه شیخ ته دَ وختونو دَ شمار وایه

بادشاهان مری په تاجونو او تختونو
عاشقانو ته دَ زلفو دَ تار وایه

دَ وطن خاورې دَ مور په نوم یادېږي
ستا نه ځار شم خپل بچی ته خو ځار وایه

نورې هیڅ هُنر ایزده نهٔ دے نادانه
عندلیبؔ ته بس دَ زړونو دَ ښکار وایه

★★★★

Pukhto.Net

دا چې په زړهٔ کې مې دَ زړهٔ دَ درد داستان پاتې شو
په دې خبره رانه فکر دَ کاروان پاتې شو

بيا خو په کانو دَ ويشتو يم چې مې پرې نهٔ ږدوئ
کهٔ په ژوندون کې رانه فِکر دَ جانان پاتې شو

تا راته اوکتل خو هيڅ دې راته اونهٔ وئيل
سترګې مې دم شوې خو په زړهٔ کې مې ارمان پاتې شو

په خوئ مئين راله سرو ږرو کې را اورسيدو
په مخ مئين مې په څو څاڅکو دَ باران پاتې شو

دَ مستۍ سيند ته مې دَ حُسن سپوږمۍ کوزه کړله
په توره شپه کې مې دَ زړهٔ کلے روښان پاتې شو

زهٔ دَ ساقي په مرګ خفه يم خو په تا څهٔ اوشو
شيخه ببخي درنه په نيمه کې اذان پاتې شو

زړهٔ بوراګے چې مې دَ مینې لولکۍ یوړلو
ګُل ګیلـه اوکړه او سپرلے راتـه حېران پاتې شو

دَ بچـو غم ئې دَ سینګار مزو تـه چـرتـه پرېږدی
دَ لېونۍ نـه بیا پـه بـوسُو کې پېزوان پاتې شو

یـواځې تـهٔ خـو عـندلیبـه غم زپلے نـهٔ ئې
دلتـه لا څـوک دے چې پـه غـاړه ئې ګرېوان پاتې شو

★★★★

Pukhto.Net

کۀ دَ هجر شپه دَ کال هومره اوږده ده
زما لاس کې هم دَ خپل فِکر ډیوه ده

دَ یادونو په سینګار کې دې مشغول یم
په ببلتون کې دَ دیدن غوندې مزه ده

په رُخسار ئې دَ خولې څاڅکی پراتۀ دی
کۀ په ګُل دَ ګُلابی عطرو پونه ده

بیا په زیړ مازیګری بام ته ختلې
په اسمان کې دَ رنګونو زرغونه ده

ستا په چم کې جنتیانو دوزخی کړم
خوږه یاره دَ توبې نه مې توبه ده

تۀ دَ شمار روژو خفه کړې خندا راغله
زما کور کې دَ کلونو نه روژه ده

Pukhto.Net

خــارونـې چـې دَ بـلـې نـه تـپـه اوکـړه
دَ پـنجرې طـوطـی لـه دغـه هم پـوره ده

پـه زنـگـون راتـه سـر کـېږده مینه ستایه
چـې اودهٔ نـهٔ شـې دَ ژمـی یخـه شپـه ده

غـلامـی راتـه پـېغـور ښکاری پُښتون یم
دا دُنیـا رانـه پـه دې ټـکی خـفـه ده

راتـه ګوره چـې دا زړهٔ مـې ټکورېږی
ستـا پـه سترګو کـې زما دَ درد قِصه ده

راتـه مه وایه چې عُمر دې خُدائے ډېر کړه
دې حـالاتـو کـې خـو دا سمـه خبره ده

عـنـدلیبؔ تـه چـې دې اووې چـې درځـمه
دا خـبـره دې دَ شـاتـو نـه خـوږه ده

★★★★



Pukhto.Net

شنه دره کې د سُور هار مازیګرے
ځو لوګرى پکې اورى لوګرے

دم په دم د چینې یخې اوبه څښمه
چا په شاتو کې راکړے تریخ کوَرے

سره غرمه کې مې ورتې ټپې کولې
د ګوَرګوَرو نه ئې ډک کړلو شکرے

چې ګُناه کووم نو هر چا ته ښکاره ده
چا ته نهٔ ښکارى زما سوړ نغرے

ښکلے زړهٔ اؤ نوے فکر راته ستایه
په جوټه ښکار باندې نهٔ ورځى زمرے

د یار غم له به د اوښکو اميل جوړ کړم
عندلیبؔ شومه په زړهٔ باندې نرے

★★★★



Pukhto.Net

د دردونو په دوران کې به راځې
د يار غمه په وجدان کې به راځې

د سپرلي ياران مې ډېر شُو رانه تاؤ دي
ګُله ياره ! په خزان کې به راځې

که مستۍ مې د زړګي په چم کې ګورې!
د مئينو په کاروان کې به راځې

د واورينو غرونو څوکې درته ځارم
په شېبو شېبو باران کې به راځې

چې د اوښکو امېلونه ګُزار نۀ کړې
عندليبه په خپل شان کې به راځې

★★★★



Pukhto.Net

اوس چې جرګې نهٔ کوی
بیا به ګیلې نهٔ کوی

ورځ چې له خُدایه غواړی
خوب دې دَ شپې نهٔ کوی

بیا ئې توبه اوویسته
بیا دې توبې نهٔ کوی

مخ چې قبلې ته لرې
مخ دَ قبلې نهٔ کوی

خوند دَ شملو لوټې خو
خوند پرې شملې نهٔ کوی

اوس ددې ښار لېونې
شور دَ غرمې نهٔ کوی



Pukhto.Net

غم دَ بابا شو په سر

غم دې بې بې نهٔ کوی

ګوره هوښیار شو سړے

تول دَ جذبې نهٔ کوی

ګُل خوشبوی عندلیبؔ

ګُل ته سجدې نهٔ کوی

★★★★

Pukhto.Net

ما چې ستا قیصه اوکړه
ګُل رانه ګیله اوکړه

زړهٔ مې اور اخستو وو
سترګو پرې پونه اوکړه

تاله مې غوښته دُعا
ځان ته مې خبره اوکړه

چا منګے تړلے وو
ماورته تپه اوکړه

ګُل شوله سحر وختی
څانګې ته مې شپه اوکړه

مینه مې ستائیله جو
شېخ راته غُصه اوکړه

Pukhto.Net

سره اننگی مه بښیه
سترگو مې لمبه اوکړه

درد غېږ کښې نیولے ووم
ستورو تماشه اوکړه

نن دَ عندلیبؔ سترې
سترې زړهٔ دمه اوکړه

★★★★

Pukhto.Net

لیونے ځکه په څوکه دَ دار ناست دے
چې په هره خزانه دې ښامار ناست دے

دَ خاورین حُسن له زوره دې خبر شوم
تماشې ته ئې دَ حورو قطار ناست دے

رُخسارونه دې گُلونه دَ لالا دی
بوراگے ورته دَ زلفو په تار ناست دے

سُور پېزوان دې په سرو شونډو باندې پروت دے
کۀ په کان دَ گبینه څوکیدار ناست دے

دَ وجود سېوری ته پرېوتو دمه شو
چې دَ ځان په خوږو موړ شو قلار ناست دے

په تاله گودر کې بیا نغمې غږېږی
عندلیبؔ چرته په ښاخ دَ چینار ناست دے

★★★★

چې دَ ساقي سره کاسه کې دلاسه پاتې ده
اوس دې جانانه په خُمار کې څهٔ مزه پاتې ده

اوس به په سپوري دَ جنون کې تصوّر لوبووم
نهٔ په جمات کې پټېدے شم نهٔ حُجره پاتې ده

په اديره کې گنه گونه وي مودې اوشولې
زمونږ دَ کلي دَ بازار تشه نامه پاتې ده

وخته په سر مې قدم ږده خو دا هم مه هېروه
لا مې په سر کې دَ پُښتون غرور نشه پاتې ده

يا طوفاني شپه زوروره وه يا زهٔ کمزورے
نهٔ مې قلم گوتو کې شته دے نهٔ ډيوه پاتې ده

چې نهٔ په واورو کې سره شوه نهٔ اورونو اوسوه
دَ عندليبؔ په زړهٔ کې داسې رنګ جذبه پاتې ده

★★★★

چې په زور دَ خپل خنجر سرے غلط شي
په هُنر کې دَ هُنر سرے غلط شي

کۀ ئې هر سرے لُقمان شي خو غرقېږي
په لښکر کې چې دَ سر سرے غلط شي

ورك ئې مه ګڼه په ورکه پسې ګرځي
چې په غرونو کې دَ غر سرے غلط شي

چې ازار دَ ملنګانو ورپسې شي
دَ غټانو په دوتر سرے غلط شي

چُپ دَ چَپ نه ځکه ښه دے عندلیبه
په خبرو کې اکثر سرے غلط شي

★★★★

زړۀ مې ستا سترګو کې څه ګوری لګیا دے
خو ژړا له بهانه ګوری لګیا دے

هغۀ هاغه دغه څۀ کوی مئین دے
هغۀ هاغسې هغۀ ګوری لګیا دے

دَ احساس دَ مشغولا سامان لرمه
په نشه کې مې نشه ګوری لګیا دے

یو دَ حورې په سودا کې سودائی شو
بل په خاوره کې مزه ګوری لګیا دے

زۀ دمې له سبورے ګورمه لګیا یم
هغۀ سبوری له دمه ګوری لګیا دے

مرګه مه ورځه لا تا ته اوزګار نۀ دے
عندلیب دَ ژوند مانه ګوری لګیا دے

★★★★

# نن مې بيا

نن مې بيا جذبه نشه شوه، نن مې بيا سوے ارمان دے
نن مې بيا فکر بوږنېږي، نن مې بيا په سر تالان دے
نن مې بيا ژبه پولۍ شوه، نن مې بيا تلې تنہاکې
نن مې بيا احساس خفه دے، نن مې بيا په هوش لړزان دے
نن مې بيا زهر ګوټلي، نن مې بيا مرګي ته زړهٔ دے
نن مې بيا ضمير راګېر کړم، نن مې بيا عقل حېران دے
نن مې بيا سلګۍ په خُله کې، نن مې بيا په شونډو پاړ دے
نن مې بيا نظر لمبه شو، نن مې بيا سترے وجدان دے
نن مې بيا وينه ارزانه، نن مې بيا چغه بې قدره
نن مې بيا زخمونه خاندي، نن مې بيا په غم ګُزران دے
نن مې بيا زړهٔ کې ماتم دے، نن مې بيا سترګې وربېږي
نن مې بيا سينه غلبيله، نن مې بيا خيرې ګرېوان دے
نن مې بيا خواهش وژلے، نن مې بيا جنت ګټلے
نن مې بيا په کور کې لوږه، نن مې بيا کلے زندان دے
نن مې بيا جبر ليدلے، نن مې بيا بې خودي اوکړه
نن مې بيا په نمر سفر دے، نن مې بيا سپورے دَ ځان دے

فضل حکيم عندليب

نن مې بيا په غېږ بندېز دے، نن مې بيا خاموشي اوکړه
نن مې بيا په خوب کې تېر شو، نن مې بيا بائيللے شان دے
نن مې بيا محرومۍ تنګ کړم، نن مې بيا مايوسي وژني
نن مې بيا بغاوت اوکړو، نن مې بيا هغه اعلان دے
نن مې بيا قلم ګوزار کړو، نن مې بيا ټوپک ته لاس کړو
نن مې بيا په خاوره جنګ دے، نن مې بيا عزم سندان دے
نن مې بيا مينه پرده کې، نن مې بيا کينه سرګنده
نن مې بيا وصال غوښتلے، نن مې بيا برخه هجران دے
نن مې بيا دردونه پخ کړل، نن مې بيا سفر ته پام شو
نن مې بيا صبر تمام شو، نن مې بيا منزل اسمان دے
نن مې بيا اننګې زيړ دي، نن مې بيا تندے تريو کړے
نن مې بيا عندليبؔ ژاړي، نن مې بيا په باغ خزان دے

★★★★

# وخته راشينده خاورې

زهٔ د ميـنـې تُـخـم يـم
خـاوره کې ټوکيږمه
زهٔ چې فـنـا کيږمـه
هـلـه پيدا کيږمـه
تهٔ بـه ئ سـزا ګڼې
زهٔ پکې مستيږمـه
وختـه راشينده خـاؤرې

خـاؤرې جـلـوه اوليـده
ځـومـره بـخـتـوره ده
خـاوره زورَوره ده
ځـومـره چې ژَوره ده
دومـره لا پـه بـره ده
وختـه راشينده خـاؤرې

Pukhto.Net

اور ئې پښولـه رانغې
ځـان ئې اور تـه واچـوو
زړ ئې بـغـاوت اوکـړو
شـر ئې شور تـه واچوو
خـاورې دَ يقين پـه زور
نـقـد پـور تـه واچوو
وختـه راشينده خاورې

☆☆☆

خـاورې مـعجزې لـرى
يکـه لـه اشـره ده
اور چـې نـافرمانـه دے
خـاوره تـرېـنـه غوره ده
خـاوره بيـا پـه اور سېزل
دا ښـنګـه خبـره ده
وختـه راشينده خـاورې



Pukhto.Net

نهٔ پرېږدی بدل دَ چا
چارې دَ پښتو کړی دا
یَو زړے ور واچــوه
سل زړی زرغون کړی دا
چرته عندلیبؔ ځې
زر به دې راستون کړی دا
وخته راشینده خاؤرې

★★★★



Pukhto.Net

# خپل خپل صلیب په ولې

ددۀ پرې هېڅ نۀ کېږي
ددۀ پرې هر څۀ کېږي
دے چې محروم پاتې دے
په دۀ کې ځائے نشته دے
دے شو غلام دَ خواهش
ددۀ رسۍ نۀ نیسي
یو په غنې یادېږي
بل گدائی پربشوده
دَ لوئے دریاب په سینه
خسینے برېت تاوهي
طوفان غُصه نۀ کوي
شړې ځان غر اوگڼو
په نالېدلي لاره

Pukhto.Net

لاروی ځان سترې کړو
یو سترې سترې کاروان
سراب سراب منزل ته
سور په تناکو زغلی
خپل خپل صلیب په ولی

بیا یو بې وسه تدبیر
دَ تقدیر لومو کې ګېر
دَ ارمانونو قاتل
تُوره تېره ګرځوی
لا دَ مقتل دَ خاوړې
تنده سره خونۀ ده
لا دَ زېړون په رباب
دَ فنا ساز غږېږی
دغه بُتکې دَ خاورې
دَ غم بناترسه باران
خاوړې ته اورسوی

Pukhto.Net

خو په ځان پوهه نۀ شی
ژوندون دَ ګُل دغه وی
دَ لږ سپرلی تماشه
مستی دَ پرخې مننم
دَ نمر خښتلو پورې

★★★★

Pukhto.Net

# ما مې خبره اوکړه

درده خبره واوره
راځه راغاړه وځه
چې به اشنا شو سره
څه له ملنډې کوې؟
زه څه تېوقي خو نه یم
زه دې ډېر بنه پېژنم
خو ستا باور نه راځي
زما په زړه کې ته ئې
زما په سترګو کې ته
زه چې تا اووینمه
په هر اندام دَ وجود
ډېر زر دې اووینمه

Pukhto.Net

خو چا ته نۀ وایمه
زۀ څۀ هغۀ خو نۀ یم
چې نغارې وهمه
اظهار په هاغه ځائې کې
چې وي غوږونه دَ کار
تۀ کۀ غوږونه لرې!
ما مې خبره اوکړه

★★★★

Pukhto.Net

# ګل ته

ګـلــه ســخـی دې ګـنم
چې شې له خوبه راویښ
نمر تـه دانـه دانـه کړې
ښـګـلـې امېل دَ پـرخـې
زهٔ دومره شـوم یمه چې
دَ خپـلـو اوښـکـو امېل
پـه خپـلـه غـاړه ساتم
چـالـه ئې نـهٔ ورکـووم

Pukhto.Net

# راز

دا پک خُم، دا تش جام

دا غرور، دا ناکام

دا شمکور، دا منظر

دا عاجز، دا الزام

دا جلاد، دا مقتل

دا مقیم، مدا مقام

دا زېږون، دا مرګے

دا سحر، دا ماښام

دا جنت ، دا دوزخ

دا خواهش ، دا لګام

دا قېدی، دا مجبور

دا سزا ، دا انعام

دا تهذیب، دا تقدیر

زوړ ښکاری، نوے دام



Pukhto.Net

یو هَم راز، بل هَم راز
دا آغـــاز، دا انـجـام
دا خـــاکی، عـنـدلیبؔ
دا نـغـمــه، دا پیغـام

★★★★

Pukhto.Net

# زړۀ به مې چرته بوځى

يـا مـې ګـودر تـه بـوځـى
يـا مـې خړ غـر تـه بوځى
يـا ابـاديـانـې كـووم
يـا مـې سـنـګـر تـه بوځى
فـكـر كـۀ ويـاړ ډېـر دے
زړۀ بـه مـې چـرتـه بوځى

اوږد سـفـر هـم راتـه
اوږده خـوبـونـه غـواړى
څـۀ ثـوابـونـه غـواړى
څـۀ ګُـنـاهـونـه غـواړى
دَ خپـل جـانـان لټون خو
ډېـر انـدازونـه غـواړى



Pukhto.Net

شبخه ما مه ګرموه
چې مېخانې لټووم
ښې خزانې لټووم
ته ئې په باغ کې کړې ورک
زۀ ویرانې لټووم

نۀ مې ازغی دی پکار
نۀ دې ګلونه غواړم
زۀ د جانان د کلی
تاؤده بادونه غواړم
بیا مې په خپله شړې
اوږده خوبونه غواړم

Pukhto.Net

زړې ډېر زر او بائيلل
زوړې بلها ډېر دے
غم د سحر نۀ کوی
غم د بېګاه ډېر دے
په مرګ ختمېږی کله
ښخ د بابا ډېر دے

سکون د نوی دور
تُندې په مخه کړلو
ښه زورَور پهلوان
سيلۍ په مخه کړلو
بابا کۀ ډېر وو تکړه
ابۍ په مخه کړلو

چا به تدبیر رټلو
چا به نصیب پړ کړو
ما لیدو ځان کې کمے
تا به رقیب پړ کړو
ښکاری تور تم دَ جهل
بیا عندلیبؔ پړ کړو

ما دې دَ خپلې چوپړی
زیړ مازیګر ته بوځی
زړهٔ به مې چرته بوځی

★★★★

Pukhto.Net

## غـرغـره

کـلـه تـروه غـرغـره

کـلـه خوږه غـرغره

کلـه نـا کلـه پکـې

خـانـه کـوه غـرغـره

چـرته پـنځه غرغرې

چـرتـه یـوه غـرغـره

وه غـرغـره غـرغـره

ګـلـه هغـه غـرغـره

سـړے بـه داسې نهٔ وی

چې کړی ناغه غرغره

څـوك له عادته مجبور

کـوی سـاده غـرغـره

څـوك دَ ځیګر پـه وینو

ښـه تکـه سرهٔ غرغره

یـو پـه یـو ځـه غرغره

بـل پـه بـل ځه غرغره

یا په زیړې مازیګر
یا نیمه شپه غړغړه
یاره په وخت دَ ګُلو
مه هېروه غړغړه
اے عندلیبه مه ځه
اوکړه راځه غړغړه

★★★★

Pukhto.Net

# عندلیبه داسې کیږي

چې رڅیږي نو خوریږي، چې خوریږي نو رڅیږي
چې ګرېږي نو کرېږي، چې کرېږي نو ګرېږي

چې رپیږي نو خوئیږي، چې خوئیږي نو رپیږي
چې پټیږي نو ټوکیږي، چې ټوکیږي نو پټیږي

چې ټوکیږي نو رسیږي، چې رسیږي نو ټوکیږي
چې کږیږي نو زوریږي، چې زوریږي نو کږیږي

چې چقیږي نو هضمیږي، چې هضمیږي نو چقیږي
چې قرتیږي نو پړکیږي، چې پړکیږي نو قرتیږي

چې درنیږي نو سپکیږي، چې سپکیږي نو درنیږي
چې پوهیږي نو توئیږي، چې توئیږي نو پوهیږي

چې رسیږي نو پوهیږي، چې پوهیږي نو رسیږي
داسې کیږي عندلیبه، عندلیبه داسې کیږي

★★★★



PuKhto.Net

## مونږه هسې خُدائې ساتي

نور څۀ نۀ وايم زياتي
مونږه هسې خُدائې ساتي

هره چاره په اټکل
هره چغه جذباتي

زما لاسو کې ګرېوان
ستا په لاسو کې بياتي

هغه جوړ شو نن جلاد
چې پرون وو خېراتي

په پنځه روپۍ جنت
رابخښلے اسقاتي

قام دې ډوب شي په درياب
هر يو سوچ کوي ذاتي



Pukhto.Net

جوړوي تري خنګه قام
چي تعليم دے طبقاتي

نشته تله دَ انصاف
دَ شعور دلته قاتي

څوك روان دي په لكير
څوك پيدا حادثاتي

نۀ پوهيږي په رموز
خوښوي شور اناتي

په نظر كي دَ نادان
عندليبؔ خرافاتي

★★★★

Pukhto.Net

# لېونے بنه یم کنه

دا روغ چې ځان ته وائی
زما په خُدائے قسم دے
که پوتې روغ وی یاره
ما چې نزدې اولیدل
زهٔ حق حېران پاتې شوم
ټول دَ روپۍ ملګری
ټول سرمائې لوټلی
ځوی نه ابۍ هېره ده
ابۍ دی خُدائے خواره کړی
کوی دُعا په پېسو
بابا دې خُدائے سړے کړی
چې سړے اوپېژنی
څوک چې ئې نوم ژوندے کړی
هغه په کاڼو ولی
څوک چې ئې ګېډه ساتی



Pukhto.Net

هغه سړو کې شماري
دا څۀ فاني دنيا ده
زړۀ مې تڼق چوی دلته کې
مرګیه چرته کې ئې
په ما راپېښه اوکړه
نور به دې نۀ ستایمه
ژوندونه سترے دې کړم
روغ دې په شړق اولګی
دا څۀ قنیصې اورمه
لیونے بښه یم کښه

★★★★



Pukhto.Net

## زهٔ دَ ګرنګ دپاسه اورژېدم

زهٔ دَ ګـرنګ دپـاسـه ښـه يم اشنـا
مـا دَ بـازار ګـلـونـه ځـهٔ ليدلي
چرتـه هم رنګ دَ چا په لاس نهٔ شومه
دا فـطـرتـي رنګـونـه ډېر دي کـنـه
هسې نـهٔ چرتـه دَ چا رنګ واخلمه
دا خپـل رنګـونـه رانـه کـډه اوکـړي
دا وچ خـوړي اؤ دا زګـې کـاربـزې
دا لـه سُـود زيـانـه بې پروا خاموشي
بلهـا شـورونـه زمـا زړهٔ تـه راوړي
بلهـا رنګـونـه زمـا زړهٔ تـه راوړي
دَ تـصـوّر خـوږې مـحـفلـې لـرم
دَ چـا بې حِسـه وجـود ځـهٔ کـوومـه
چې هـر احسـاس رالـه پـه تـلـه تلي
داسې ډنګـر تـه خـو ګـيـا واچـوئ
دا مې دَ هـغـهٔ زړهٔ لـه تـلـه وايـم
چې مې خـالق ورتـه خپل کـور وئيلې

زۀ دَ ګـړنګ دپاسـه ښـه يم کـنـه
زۀ دَ ګـړنګ دپاسـه ښـه يم کـنـه
هـر لاروی تـه سـرور اوبـخـښـمـه
پـه هـر يـو بـاد بـانـدې احسان کوومه
پـه هـر سپـرلـی بـانـدې لـتـۍ اړووم
هـر يـو خـزان رابـانـدې زړۀ سېزلے
دَ چـا وربـل زمـا ارمـان کـړے دے
دَ چـا پـټکے رابانـدې ښکلے ښکاری
خـو زۀ پـه داسـې لـوړ ګـړنګ ولاړ يم
چې څـوک لـه ويـرې راختلے نۀ شی
زۀ دَ ګـړنګ دَ پـاسـه اورژيـدم
خو چاپېرچل کې مې تُخمونه ګوره
چې هـر ګـړنګ درتـه ګُـل ګُل نۀ کړمه
مـړه چې مـاتـه بيـا ګُل اونۀ وائې
زۀ خـو هـغـه يـم چې فـنـاه نـۀ لـرم
زۀ عـنـدليـبؔ يـمـه ورکـېـږمـه نـۀ
زۀ دَ ګـړنګ دَ پـاسـه ښـه يم کـنـه!



Pukhto.Net

# زمونږه زیږ بچوړی

ځهٔ مزدوریانې کوی، ځهٔ غواړی چږ بچوړی
زمونږه زیږ بچوړی، زمونږه زیږ بچوړی

ځوك مزدوری دَ هوټل
ځوك کارخانو اوخوړل
ځوك دَ اینجن دَ لاندې
ځوك کمانو اوخوړل
ګُلان ګُلان بچوړی
مستری خانو اوخوړل

په ګریسو تور بچوړی، په دوړو خړ بچوړی
زمونږه زیږ بچوړی، زمونږه زیږ بچوړی

څوك دَ خركار ولقه كې

څوك دَ بېښو مزدوران

څوك په جوتو مزدوران

څوك په نشو مزدوران

څوك دَ غېټانو دَ كور

دَ سپوكېټو مزدوران

نهر نهر بچوړې، لغړ لغړ بچوړې

زمونږه زېړ بچوړې، زمونږه زېړ بچوړې

په سرو غرمو كې ګرځي

په سخا ځايونو باندې

ځيرې خيرنې جامې

په وجودونو باندې

ځان له خوراك لټوي

په ډېرانونو باندې

دې دَ مزدور بچوړې، دا وَږ لغړ بچوړې

زمونږه زېړ بچوړې، زمونږه زېړ بچوړې



Pukhto.Net

څوک ترېنه ساه اوباسي
دَ اوخ دَ ملا دَ پاسه
هُم کړي توهين دَ بشر
هُم پرې خندا دَ پاسه
ولې سزا ورکوي
دوئ دَ سزا دَ پاسه
په څو ټکو خرڅېږي، دَ خوار چيچړ بچوړې
زمونږه زيړ بچوړې، زمونږه زيړ بچوړې

نۀ دَ قلم نه خبر
نۀ له کتابه خبر
نۀ په ګناه پوهېږي
نۀ له ثوابه خبر
دا دَ مزو نه لرې
بس دَ عذابه خبر
دا ناروغو زېلي، په غم ککړ بچوړې
زمونږه زيړ بچوړې، زمونږه زيړ بچوړې

دَ زړۀ زخمونه څيړه
اے عندليبه کښېنه
ارمان په زړۀ اوساته
خوار بدنصيبه کښېنه
غروونه چا ته کوې
قلار غريبه کښېنه
دلته زمرو راوړي، ښه دَ ګيدړ بچوړي
زمونږه زيږ بچوړي، زمونږه زيږ بچوړي

★★★★

Pukhto.Net

## دا نظام

دې بازار کې لوړ په لوړ خوره ګراني ده
خو دَ وینې پکې ډېره ارزاني ده

دهٔ پخپله ښه پخه غاړه ورکړې
ما ته وائی چې دُنیا ټوله فاني ده
غُلامي مې له وطنه کډه نهٔ وړي
ازادي دلته کې سمه پېزواني ده
ددې تریخ ژوندون مې هم څه غم پکار دے
شېخه ستا هره خبره اسماني ده
هر راهبر ددې نظام مې وینې څښلې
هر یو غوښتې له عوامو قرباني ده
یو خوا لوږې دي او بل خوا ته عېشونه
دا خو ډېره عجیبه مسلماني ده

چې تر اوسه لا ساه اخلې فنا نهٔ شوې
عندلیبّه دا دَ خُدائے مهرباني ده

★★★★

# جانانه مړ به مې کړي

دا دَ تقدیر غلامي
دا بې جنونه جذبې
دا دَ باطن ګندګي
دا دَ ظاهر پلوشې
دا دَ غمونو دېوال
دا دَ دردونو ردې
دا دَ انسان بې قدري
دا د نوټونو چرچې
جانانه مړ به مې کړي
جانانه مړ به مې کړي

دا دَ جمود بادشاهي
دا دَ فکرونو تیرې
دا یخې کنګل وینې
دا ګرمې ګرمې نعرې
دا دَ عادت عبادت
دا موروثي عقیدې
دا ورکې ورکې لارې
دا ترهېدلې رمې
جانانه مړ به مې کړي
جانانه مړ به مې کړي

Pukhto.Net

دا بې اثره خُطبې
دا په حِساب سجِدې
دا لباسی انقلاب
دا ګوټه کړې قیصې
دا بې شعوره شپځې
دا بې نمبره فتوې
دا بېزاری له ژونده
دا د مرګی فلسفې
جانانه مړ به مې کړې
جانانه مړ به مې کړې

دا مشینی هوشونه
دا بې سروره نشې
دا کاڼی کاڼی زړونه
دا د وحشت سلسلې
دا وړی تړی خلق
دا غټې غټې رشې
دا عندلیبّ لېونے
دا سوې سوې ټپې
جانانه مړ به مې کړې
جانانه مړ به مې کړې

✶✶✶✶

## دَ ګوانتانامو بې پښتون قېدی ته

(دَ امریکې بدنامِ زمانه جېل)

هغه وئیل نوې پېړۍ راغله
اوس به مې ژوندکې څۀ بدلون راشي
ماوې لالیه تۀ خوبونه وینې
زۀ اؤ تۀ داسې دنیاګۍ کې اوسو
چې دَ وحشت او جهالت ړکه ده
دلته دَ میني دُښمنان اوسېږي
دلته زما او ستا دَ کلي شېخان
اوس هم په تُوره باندې تُوره کوي
اوس هُم زما او ستا ړاندۀ مشران
پردي جنګونه خپل کاله ته راوړي
زما او ستا غوندې ځلمو ککرې
اوس هم دَ جنګ دَ اور خشاک جوړېږي
زمونږ دَ سیمې روحاني مریضان
اوس هم خېرو باندې اسمان ماتوي

دَ نور قيصې راته بې نوره خلق
په لوړ سپيکرو په کوڅو کې کوی
په نظرياتو خپل سرونه شيندی
اوس هم دَ زر او دَ زور ورې سترګې
په سرېتوب پورې پشارې کوی
زما بې وسه بې ګناه لاليه!
زهٔ دَ ګونګی ملزم انجام پېژنم
راځه راځه چې دا خپل ځان بدل کړو
بيا به ددې پېړۍ خبرې کوو
بيا به ددې پېړۍ خبرې کوو

★★★★

Pukhto.Net

## سپوږمۍ ته

خبر که په پوره ئې اخلې!
مونږ ته رڼا راکوې

سپوږمۍ! ته ډېره ښه ئې
ما ته دې خيال دے کنه!
زۀ غټ وحشي يم وحشي
زۀ دَ رڼا دُښمن يم
خپلې انا دپاره
دَ بل دَ ژوند شمعې ته
اکثر پوکۍ کوومه
سپوږمۍ! تۀ ډېره ښه ئې



Pukhto.Net

ستوري روښانه ساتې
قرض خېرات کې ورکړې
ستا سخاوت چې وينې
دا عجيبه نظاره
دَ نمر په ګرم مزاج
پونه دَ پرخې اوکړي
زړۀ اخِر زړۀ وي کنه
په دې ادا نرم شي
تا ته رڼا اوسپاري
تا ته خلا اوسپاري
اوس دې مجبوره کړلو
چې ترڅو ستا ادا وي
په تا مئين زړګے به
تا ته ژوندون دربخښي
سپوږمۍ! تۀ ډېره ښه ئې

ته چې د غرۀ په څوکه
لکه د يار د وروځې
نرۍ نرۍ ښکاره شې
لکه چې زۀ پېدا شم
چې په ورو ورو غټېږې
لکه چې زۀ غټېږم
چې شې د څوارلس ورځو
لکه چې زۀ زلمے شم
بيا په ورو ورو کمېږې
لکه د عُمر زما
بېرته نرۍ نرۍ شې
لکه چې زۀ بوډا شم
اخِر تيارۀ جوړه شې
لکه چې زۀ مړ شمه
بيا لکه څنګه چې ته
اوکړې دمه څو ورځې
زۀ هُم لحد کې پرېوځم

حساب کتاب ورکړمه
بیا لکه ستا پشانې
چې یو ځل بیا راخېژې
زهٔ به هم پورته شمه
خاوړې به اوځنډمه
خو دغه ورځ داسې ده
دَ ژوند اوبهٔ به اوځښم
ستا به درك نهٔ لګی
زهٔ به زوال نهٔ لرم
سپوږمۍ تهٔ ډېره ښه ئې
سپوږمۍ تهٔ ډېره ښه ئې

خو دومره هم نهٔ ئې چې
تر ما راورسېږې
زهٔ په انسان یادېږم
★★★★



PuKhto.Net

# دلته څهٔ پاتې دي؟

نن چې دَ یو کوره لوګے دَ تنور پورته نۀ شو
ماوې کۀ خلق ددې کلی نه په کډه تلی
دَ بر کنډاؤ په تور ګړنګ توره خارو ناسته وه
خو دَ پخوا پشان په خُله کې ئې سندره نۀ وه
په هر پټی کې مالکونډی او کاربزې ولاړې
دَ سرو غانټولو قطارونه په نظر نۀ راتلل
دَ سرو منګو ماتو کودرو راته ځکه ژړل
چې ئې په خوا کې دَ ګودر په سینه اور بلېدو
نۀ درمنونو کې رشې وې نۀ دلی ښکارېدې
نۀ په ږبه باندې پیتاوی ته دَ خلقو ټولګی
شاړې حُجرې دَ پخوانی دور ارمان کولو
دوړو ته زوَړند وو یو ګُټ کې بې تارونو رباب
نۀ مې دَ توت سېوری ته کټ نۀ مې چیلم اولیدو
نۀ کروندې وې نۀ لوونه په اشرو کېدل
نۀ دَ قولبې تکړه غوایان شته دَ دهقان په کور کې
نۀ هغه ایوه شته نۀ جغ او نۀ ښاخې چرته کې

نهٔ دَ چرګې په غاړه بيا کوږمه راغونډه شوله
نهٔ په خانك کې شته لېټې نهٔ دَ غوړو ډنډونه
نهٔ دَ رباب او منګې غرَب شته نهٔ ژړا دَ سِتار
نهٔ دَ غرسه جانان شپېلۍ زما تر غوږو شوله
نهٔ چلغوزي شته دَ نختروپه پرګې دَ سيږو
نهٔ مې شپونکے اوليدو نهٔ هغه رمې په غرهٔ کې
نهٔ په ودونو کې دَ سرو لاسو اتڼې کېږي
نهٔ مې دَ غم په وخت کې ساندې تر غوږونو شولې
نهٔ په اختـرو کښې سېلونه او تيالونه شته دے
نهٔ دېوالګو باندې دَ ګوتو دَ مېټې ګلونه
نهٔ په شپېلونو باندې شته دَ لولکو سېلونه
نهٔ په نکريزو سره لاسونه نهٔ خالونه په مخ
نهٔ مې اوربه نهٔ مې چارګُل نهٔ مې پېزوان اوليدو
نهٔ دَ کخی خُلـه کې ټپه شته نهٔ جواب دَ ټپې
نهٔ پورې چم کې دَ تمبلونو اوازونه خبرې
نهٔ مې په دې سيمه دَ دروزې څپلۍ اوليدلې
نهٔ اوس په ژرنده کې دانو ته خلق شپې رونوي



Pukhto.Net

نۀ تريو لاوندې شته نۀ پښتې اؤ نۀ کټوۍ د شوملو
نۀ د مېچنو تاوېدلو اوازونه شته دے
نۀ نيمه شپه کې اوبه خورې د سپوږمۍ په رڼا
نۀ غلبېلونه شته دے نۀ هغه چجونه چرته
نۀ نظر ماتي له لوګے شول سپېلنې او نمبر
نۀ په تونو او دروازو باندې ژور ګلونه
نۀ مې جرګې شته نۀ مې هغه شمله ور پښتانه
نۀ هغه يار شته چې د يار په سر ئې سر ورکوو
ما عندليبؔ له خپل زړګي دا مشوره راکړله
نامرده څه له دې وطنه دلته څۀ پاتې دی؟

★★★★

## ساګ سُکړک

چې کنډول وی د شوملو ساګ د شړشمو
د سرور مړاوی ګُلونه مې سمسور شی

په پستو چاچو پاخۀ سُکړک چې اوخورم
چاؤدې شونډې به مې خامخا تکور شی

# ربــه

ربــه راکــه، ربــه راکــه ، ربــه راکــه
دَ خپـل درد تـرجـمـانیٔ لـه ژبـه راکـه

چې دَ ځـان دَ راز دَ ځـانـه تپوس اوکړم
دومـره واك خـو دَ تهـذيـب قـالبـه راکـه

چې دې حُسن دَ تـخـلیق پکې ځلېږي
یـو جـانـان رالــه ددې سببـه راکـه

اور مـې نهٔ سېزي دَ خـاورې نه خبر دے
خـو جنت هـم رالــه بې دَ ډبـه راکـه

چې خپل ځان درته په چوَتو سترګو ژاړي
مست یاران رالـه یو څو بې ډبه راکه

کـهٔ نېستي مې درتـه ستـایم بدې ښکارم
څــهٔ هستي هـم دَ مستیٔ طلبــه راکــه

چې پـه زړهٔ دَ عـنـدلیبؔ کـې لاره اوکړي
یـوه چـغــه ددې شـور شـغـربـه راکــه

★★★★



PuKhto.Net

# وجود مې اور اخستے

چا لګولے دَ سرونو تور بازار دے
وجود مې اور اخستے
عالمه بیا په پښتنه خاوره یلغار دے
وجود مې اور اخستے

په ښکلې خاوره کې مو خوک کر دَ بارودو کوی
مونږه راندۀ خو نۀ یُو
مونږه راندۀ خو نۀ یُو هغه زورِ ښامار دے
وجود مې اور اخستے

چا ته شهید اووایم چا ته مجاهد اووایم
په هېڅ هم نۀ پوهېږم
په هېڅ هم نۀ پوهېږم هر طرف ته دار دے
وجود مې اور اخستے

Pukhto.Net

دَ يو سړي نه هم دَ خپل ګرېوان تپوس نۀ کووم
دَ وجود خېر غواړمه
دَ وجــود خــېر غــواړمــه تــاؤ رانــه انـګــار دے
وجود مې اور اخستے

پلار چې پخپله بچي وژني څوک به څۀ اووائي
ضمير ئې زنګ نيولے
ضـمــيـر ئې زنګ نيـولے فـکـر ئې مـکّـار دے
وجود مې اور اخستے

هغـه چې تـا ورلـه انصاف کتو په کږه تلے
بس دے قلار شه لالا
بس دے قـلار شــه لالا امـن مـې پکـار دے
وجود مې اور اخستے

Pukhto.Net

په شنو درو کې د لمبو تماشه نه شي ليدے

ساه ترېنه واخلې

ساه ترېنه واخله عندليبؔ درته تيار دے

وجود مې اور اخستے

★★★★

Pukhto.Net

# خوارۀ وارۀ

پښتو ! شاعر یم سوچه مینه کووم
ستا په خوږو ټکو ټکې نۀ ګټم

---

په نغمه به ولې نۀ اوځم له خوده
چې په کړس کې دَ اسمان لټووم سوز

---

کۀ جنت راله ګټې نو داسې اوکړه
راشه ما دَ دوزخې ژوندونه خلاص کړه

---

هغه دَ یو ګُل دَ لټون سلسله ختمه نۀ ده
لکه بورا ګرځم دَ هر یو ګُل نه څکه کووم

---

زما په زړۀ کې ئې نور ځائې نۀ وینې
کۀ په لینده کې دې نور غشی نشته

---

دا غلامې اوښکې اوځته په ژبه
چې پرې خاوره پښتنه ککړه نۀ کړې

واکداره دبدبه دې په باغيانو نۀ چلېږي
دَ سرو دپاسه سرۀ تکي ليکي خو خيال

---

دَ ارمان ګُلاب په اوښکو تر ساتمه
ددې يو موسم اختيار خو زما خپل دے

---

چې جذبه وي او جنون وي او جانان وي
دَ عِشق لارې له لرمه لاروي

---

نقاد ددې دوَر لا پوهه نۀ دے
اواز ته نۀ ګوري انداز ته ګوري

---

په سترګو ړوند وے چې مې نۀ ليدلے
دا لغړ غم او بې پردې خوشحالي

---

دَ زړۀ خبره ورته اوکړې سړے
دَ ځنې خپلو نه ملګرې بۀ وي

★★★★

# فوځي چانسلر

چې دا حال وي زما یاره خُدائې دې خېر کړي
دا وطن به شي دَ ښو خلقو نه تش تش

دلته هغه سړے مشر دَ تعلیم شي
چې ځلوېښت کاله ئې کړے وي ورزش تش

PukhtoNet

# قطعه

دا په څهٔ شکلې انداز به سملاستمه
دا په څهٔ شکلې انداز به ویښېدم

په قیصه دَ شاپېرۍ چې به اودهٔ شوم
دَ مېچنې په اواز به ویښېدم

☆☆☆

## هغه وي

په زړه مې هيڅ هم اوس اثر نه کوي
که څوک دروغ اؤکه رښتيا وائی

مسافری مې دومره ډېره اوکړه
چې خپل بچی راته ماما وائی

Pukhto.Net

## زما په خيال

کوړ چې زوړ شي نوے جوړ شي نو هم کوړ وی
بغاوت له روايته روايت شی

چې کړې نه وی خطا نه وی رسا وی
يو منزل ته ډېرې لارې غنيمت شی

## هائیکو

په مصیبت واورېدم
ما پکښې خس لټوو
خو دَ غل پېره نهٔ وه

## قطعه

جام مې سترګې سرې نهٔ کړې
دا خـُل راله خُم راکړه
سترګې دې راکړې دی
ژبه راله هُم راکړه

## هائیکو

دَ جهالت دَ کندې اووتمه
خو دَ بارودو غر ته اوختمه
وایه ما څومره ترقي کړې ده



PukhtoNet

# ډالۍ

دې بې جنونه بې جانانه فِکر
ژوندون ته ډېرې ناخوالې راوړې

دَ سرمائې نظام دَ ځانه سره
دَ اخلاقي زوال ډالۍ راوړې

Pukhto.Net

# هائيکو

اوس به په خپله خپل انجام ته رسي
مار کۀ دې مړ نۀ کړو زخمي خو دې کړو
ستا دَ جذبې قدر په دې کوومه

## هائیکو

په مونږ کې دا مرض دے
دَ مړو قدر کوو
ژوندی په کاڼو ولو

## عجم

ته راته چاړا وائې
زهٔ درته اعلیٰ وایم
خو مره ښه سړے یمه

## قطعه

کړی سودا زما دَ سر
خو استازی دَ بادار
داسې شو زما وطن
لکه کومې دَ ښامار

## جذبه

دومره په شمار باندې ئې مه يادوه
څوك چې هر څه درله بې شماره درکړي

چې دې جذبه شي له وقاره ېکه
هر يو دېوال به درله لاره درکړي

## هائيكو

يمه رسا كۀ خطا؟
چې په ځان جبر كوي
هغه وحشي كنمه

Pukhto.Net

## هائيکو

چې دَ مېږو په سوړه
تشې متيازې اوکړې
جوړ شي قيامت په هغوئ

## مرض

دَ ځان فکر ئې هېر کړے
پردی کار کې ئې غرض دے

کهٔ رښتيا را باندې وائې
په پښتون کې دا مرض دے

## هائيکو

په دوئ چې تېر نهٔ اوځې
دا په پوستکو مئين
دَ عشقه څهٔ خبر دی

Pukhto.Net

## قطعه

په ځان ئې پورې کړل بلها رنګونه
زهٔ ئې لا هغسې تور زاغ ګڼم

ددې نظام هره تمغه او انعام
په خپله سپينه لمن داغ ګڼم

Pukhto.Net

## هائيکو

زهٔ عندليبؔ ترې نه انکار نهٔ کووم
صبر منم خو تر دې حده نهٔ چې
په دله ګانو کې حساب شی سړے

## هائيکو

څـه ښـکـلے وخـت وو يـاره
تـا بـه نـوړۍ کـولـه
مـا بـه ټـوکـے ورکـوو

## لټون

ځـان مـې اونـهٔ مـونـدلـو
دا بـې وسـې مـې مـنـم

پـه ځـان کـې تـا لټووم
ځکـه خپـل ځـان راکـنـم

Pukhto.Net

# پښتو

نور به ئې څوك يادوي

چې پښتنو هېره كړه

څــو مســافــرو ژبــو

تـرېنه پښتو هېره كړه

دا بــدنــصيبــه ابــۍ

خپلو بچو هېره كړه

Pukhto.Net

## قطعه

تصوّر ئې دومره خوږ دے
چې تصوير مو پسې پرېښے

دَ تقدير دومره قائل شو
چې تدبير مو پسې پرېښے

## فضائي دوره

دَ ملك غريب دَ ژوند په داسې ډګر اودرېدلو
چې دَ برستنې وَس ئې نشته شپه څادر کې کوي

دلته چې چرته زلزله يا سېلابونه راشي
زمونږه مشر ئې دوره هېلې کاپټر کې کوي



Pukhto.Net

# دُعا

دَ غـريـب سړي دَ ژوند به څه مزه وي
چې په کور ېي دَ غمونو جوړ اتڼ وي

په دُعـا کـۀ بـخـښـانـه شي لويه ربه!
دَ مـالدار په جـنـازه کې خلق ګڼ وي

# فيصله

فـيـصـلـه په تـاسُو پاتې
چې دا بـد کوی کـۀ ښـۀ کړی

چې دَ رِهـبـرې نـاپ مې اخلی
او دَ ګـيـډې غـم مې نـۀ کړی



Pukhto-Net

## خپلواکي

چې په وطن کې خوشبوئي دَ خپلواکۍ خوره کړم
کۀ زۀ دَ غرونو په سر باد شمه خفه پرې نۀ یم

واعظه! نور به مې دَ مرګ دَ کومی نۀ یروې
دَ ژوند دَ قېده کۀ ازاد شمه خفه پرې نۀ یم

Pukhto-Net

## جمود

قیصې دَ مایوسۍ رابانديې ځکه بدې لګی
ددې نهکی دَ سره دَ وجود نۀ یم قائل

کۀ پښې راپسې نۀ وی نو په خېټه به خوئېږم
یارانو زۀ په ژوند کې دَ جمود نۀ یم قائل

# ظلم

هندوان له مرګه پس دا ظلم کوي
دَ وئينو برخه په کبانو خوروي

پښتون په ژوند باندې دا ظلم کوي
دَ ښځو برخه په نرانو خوروي

Pukhto.Net

# واک

دهٔ وې دا واک ولې پردے چلېږي
زمونږ وجود هم شته حدود هم شته دے

ما وې دا ماشي دله ګان شول ګنې
پوزه ددې وخت دَ نمرود هم شته دے

## نغمې

چې هم لوظونه ماتوې هم دَ بام سر ته خېژې
دغه دَ کوزو سترګو جنګ مې سترګې نۀ لوندوی

دَ خاموشۍ رباب مې تل داسې نغمې غږوی
چې دَ لړګی دَ رباب تېنګ مې سترګې نۀ لوندوی

Pukhto.Net

## قطعه

دا مې فطرت دے چې موجونو له غاړې ورکووم
ما لا دَ غاړې نه دریاب چرته لیدلے نۀ دے

زۀ دَ ایمل او دریا خان او صنوبر دَ نسله
سر مې بائیلے خو سنګر مې لا بائیللے نۀ دے

## خال

په لیدلو دَ هغې مې زړهٔ ټکور شی
چې مې اور په زړهٔ دننه چا ایښودے

تور تارو چې دے دَ واوړې په کټ ناست دے
کهٔ تور خال په سپینه زنه چا ایښودے

Pukhto.Net

## خوب

تور ته دَ تور وئیلو جرم باندې
دلته چې سپین وی نو هغهٔ تور شی

چې دَ اقبال دَ خوب تعبیر ته گورم
خپلو خوبونو نه مې زړهٔ تور شی

# لوئ انسان

چا چې اېتهام بم دلته جوړ کړے دے
خلقو ته هغه دَ قدر خوان ښکاری

چا چې جوړه کړې اسپرین ګولی
ما ته ترې هغه ډېر لوئ انسان ښکاری

# فطرت

فرق په دواړو کې کول دَ انسانانو کار دے
څوک په سازونو باندې پائی څوک له سوزه مړ شی

فطرت هيڅ کله نهٔ بدلېږی کهٔ پرې فکر اوکړې
ماشے په غوږ باندې سر بائيلی مچ په پوزه مړ شی

Pukhto.Net

## لافې

زۀ پـه ويـالـو څـه کـووم
ګــوټ تــرې راکـړه تـرے يـم

لافـو دي مـوږ نـۀ کـړمـه
اے نــاصــحــه! وږے يـم

## مساوات

تـاؤ دَ جـذبـو مـې دومـره تـيـز کـړې ربـه
چـې پـرې دَ ظـلـم يـو نـظـام اوسـېـزم

چـې خـپـلـه لـوږه مـې پـه سـر راواخـلـي
وايـم چـې سـتـا دا يـو ګـودام اوسـېـزم



Pukhto.Net

## تپوس

دا چې ټوله شپه ساتو مونږه کورونه
دا په مونږ پسې هندوان غلا له راځی څه؟

دَ وطن دا خزانه چې مو لوټ کيږی
دا څه دلته انګريزان غلا له راځی څه

Pukhto.Net

## قطعه

جاګير دَ حُسن په نظر کې لری
يار دَ غرور په غونډۍ مست پروت دے

دَ وِصل باد ئ پيرزو نهٔ شی په ما
زړهٔ مې دَ درد سره پيوست پروت دے

## توبه

کۀ مې قدر دَ خولې او جوشې نۀ کړې
چې دَ نورې مزدورۍ نه دې توبه کړم

مشر روره چې تۀ خورې زۀ درته ګورم
نو کېږدې شي دَ رورۍ نه دې توبه کړم

Pukhto.Net

## قطعه

چې تنده دَ وصال مې دَ جنون په مېړو سر کړي
دَ اوښکو دَ رودونو نه تاؤده ګوټونه اوکړم

ساقي دې مېکدې او پېماني له څۀ باور دے
نن پرېږدوه ظالمه چې يو دوه ګوټونه اوکړم

# امن

دَ ظلم په تیاره او په طوفان دَ بې قدرۍ کې
دَ کبر بارانونه دي دَ صبر په شړۍ

ترکومې به پرتې وي نړۍ والو شلول غواړي
دَ امن دَ لاسونو نه دَ جبر هتکړۍ

## قطعه

خُدائے دې دلته په دنیا کې سزا ورکړي
چې دنیا ئې لړزولې په بد خوئ ده

ځنې داسې په غرور په زمکه ګرځي
تهٔ به وے اسمان دَ خُدائے زمکه دَ دوئ ده

★★★★



Pukhto.Net

## قبر

ژوند مې ډېران دَ ارمانونو ښکارې
پکې ورستې شوې ارزوګانې زما

قبر مې لږ دَ ناپه اوږد جوړ کړئ
چې پکې ځائې شي محرومیانې زما

## ضمیر

د دوئ تر مېنځه فیصله نهٔ کېږي
هیڅوك هم حقې ته راضي نشته دے

چې اودهٔ شوے یا خرخ شوے نهٔ وي
دَ خپل ضمیر نه غټ قاضي نشته دے

Pukhto.Net

## قطعه

دَ ذرې ذرې دېر په ذرې ارمان پروت وی
عقل په خوا کې دَ دېران پروت وی

دَ کریانې دُکان ودان وی همېش
دَ کتابونو دُکان وران پروت وی

Pukhto.Net

## تعبیر

څکه منزل دَ کامرانۍ نهٔ ښکاری
دَ بې حِسۍ لړې چاپېر وی رانه

خوب به مې څهٔ خوند دَ تعبیر اوڅکی
چې سحر پاسمه نو هېر وی رانه

## حقوق العباد

دننه زړهٔ چې دې صفا نهٔ وی نو
شکل دَ اصل دلالت خو نهٔ دے

چې دَ مخلوق حقونه نهٔ ورکوی
مذهب یواځې عبادت خو نهٔ دے

Pukhto.Net

## قسمت

دَ پښوانه خبر نهٔ یم
نن سبا خو داسې کېږی

چې ضمیر دَ چا اودهٔ شی
نو قسمت ئې راویښېږی

## مننه

دَ کفایت یار بخاریؔ صیب، اِحسان باچا خوږلنؔ صیب

فضل وهاب، محمد اسرار صحافیؔ صیب، اِقبال شاکرؔ صیب

شفیق اللّه شادابؔ صیب، ازاد بخت ازادؔ صیب، امین صیب

اختر حُسین اختر صیب، طاهرالطاف او محمد ریاض ساغرؔ

دَ خلوص او مینې ډېره ډېره مننه ــــ عندلیبؔ

## سمونه

صفحه ۱: دا انسان دا شړشم (دَ اوومې مصرعې نه پس دا مصرعه پاتې ده)

صفحه ۱۶: شعر نمبر۳: غلط: ور تهيک: سر

صفحه ۱۸: شعر نمبر ٦: غلط: وړے تهيک: ورک

صفحه ۲۳: شعر نمبر ۳: غلط: انګار تهيک: اِنکار

صفحه ۲٤: شعر نمبر ٦: غلط: نشه نشه تهيک: لشه لشه

صفحه ۲٦: شعر نمبر ۱: غلط: ګِتار تهيک: کتا

صفحه ۲٦: شعر نمبر ٦: غلط: تپه تهيک: تپه

صفحه ۲۹: شعر نمبر۳: غلط: خوشحالۍ تهيک: بېدارۍ

صفحه ٤۳: شعر نمبر ٤: غلط: خوړو تهيک: خوړو

صفحه ٤۸: شعر نمبر ۷: غلط: مالِکه تهيک: تاريکه

صفحه ٦۵: شعر نمبر ۱: (هر) پکې زياتی دے

صفحه ٦۹: شعر نمبر ۲: غلط: کړه تهيک: ګـړا

صفحه ۸۰: شعر نمبر۳: غلط: تهٔ به ښه تهيک: ښه به ښه

صفحه ۹۹: شعر نمبر ۱: غلط: دَ تندی تهيک: دی تندی

صفحه ۱۰۳: شعر نمبر٦: غلط: بيا مې تهيک: بيا ئې

صفحه ۱۰۵: شعر نمبر٦: غلط: غنو تهيک: ګُلو

صفحه ۱۰۸: شعر نمبر٤: غلط: شمع بلېږي تهيک: لمبه بلېږي

صفحه ۱۱۹: شعر نمبر۱: غلط: نم تهيک: نمـر

صفحه ۱۲۰: شعر نمبر۱: غلط: خدمت تهيک: حُرمت

صفحه ۱۲۲: شعر نمبر٦: غلط: څکه تهيک: څکـه

صفحه ۱۲۲: شعر نمبر۷: غلط: رج تهيک: ړج

صفحه ۱۲٦: شعر نمبر٦: غلط: رنګ تهيک: ړنګ

Pukhto.Net

صفحه ۱۲۸: شعر نمبر۳: غلط: نشاني ټهيك: ټکاني

صفحه ۱۲۹: شعر نمبر۳: غلط: ولې ولې ټهيك: ولی ولې

صفحه ۱۳۱: شعر نمبر ۳: غلط: بنو مې ټهيك: بنوئې

صفحه ۱٤۰: شعر نمبر ٥: غلط: ريښې چې مې ټهيك: ريښې چې ئې

صفحه ۱٥۸: شعر نمبر ۱: غلط: رنګ ټهيك: ټنګ

صفحه ۱٦۳: شعر نمبر ۱: غلط: دَ مينې ټهيك: رنګينې

صفحه ۱۷۰: شعر نمبر ۲: غلط: اخستو ټهيك: اخستې

صفحه ۱۷٥: شعر نمبر ۳: غلط: نشه ګوری ټهيك: لشه ګوری

صفحه ۱۷۸: دَ نهمې مصرعې نه پس دا مصرعه پاتې شوې ده

طور دې ګواهی اوکړی

صفحه ۱۸۱: مصرعه نمبر۱۲: غلط: شړی ټهيك: شړې

صفحه ۱۸۷: شعر نمبر ۳: غلط: مدا مقام ټهيك: دا مقام

صفحه ۱۸۹: مصرعه نمبر٥: غلط: فکر کۀ ويار ېر ټهيك: فکر کۀ وياړی خبر

صفحه ۱۹۰: غلط: لټووم ټهيك: لوټمه

صفحه ۱۹۰: دَ دوېمې مصرعې نه پس دا مصرعه پاتې شوې ده

زۀ په خزان خزان کې

صفحه ۱۹۷: شعر نمبر ٤: غلط: اناتی ټهيك: عناتی

صفحه ۲۰۳: مصرعه نمبر۳: غلط: جوتو ټهيك: جوټو

صفحه ۲۱۹: مصرعه نمبر ۱: غلط: تور بازار ټهيك: تود بازار

صفحه ۲٤۰: فطرت: اولنۍ مصرعه: غلط: دَ انسانانو ټهيك: دَ هوښيارانو

صفحه ۲٤٦: قطعه: اولنۍ مصرعه: غلط: دَ زړۀ ئې ټهيك: دَ زور ئې

Pukhto.Net



دَ دنګو غرونو باز ته مې دَ نیاز قیصه کووم

ما مه ګوره دَ زلفو دَ ځنګل په خوا کې مړ